٦٥

مختصر

سیرتِ النابغة

یعنی

د حضرت شیخ العرب والعجم نابغة العصر غزالی الوقت

شہید الاسلام **مولانا غلام حضرت غلام** رحمة اللہ تعالیٰ علیه

د ژوند مختصر حالات

تالیف

الفقیر سید محمد آیاز علی شاہ السیفی

عفی عنه بالنبی صلی اللہ تعالیٰ علیه واله وسلم

جامعه محمدیه مجددیه سیفیه ملحقه

تنظیم المدارس اہل سنت والجماعت لاہور

کوہاٹ روڈ بہادر کلے محله ابراہیم خیل پبنور

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

مختصر

سیرتِ النابغة

یعنی

د حضرت شیخ العرب والعجم نابغة العصر غزالی الوقت

شهید الاسلام مولانا غُلام حضرت غلام رحمة الله تعالی علیه

د ژوند مختصر حالات

تالیف:

الفقیر سید محمد ایاز علی شاه السیفی عفی عنه
بالنبی صلی الله تعالیٰ علیه واله وسلم

د ملا ویدو پته

کوهاټ روډ بهادر کلے محله ابراهیم خیل پېښور

مجددیه پرنټنګ پلیټ میکر سید جمال الدین سیفی

عمادد تا ورتاپ فلور محله جنګی پښاور

0346-9121146

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

بسم اللّٰہ الرحمٰن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى خُصُوْصًا عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ الْمُصْطَفٰى وَاٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَجُنُوْدِهِ الْاَصْفِيَاءِ.

اَمَّابَعْدُ

محترمو لوستونکو ورنږو دا مختصره رساله د الله پاك د يو دوست په مختصر حالتو باندے ليکلے شوے ده. صرف دالله جل جلاله د رضا دپاره او د عوامو او طلباء کرامو او سالکينو د افادے دپاره څکه چه د حضرت يوسف بن ايوب همداني رحمة الله عليه نه چاتپوس وکړو چه کله د خدائے پاك د دوستانو دا ډله پرده (وفات) شي نو مونږه د خپلې عقيدے او د دين د سلامتے دپاره څه وکړو. دوی مبارك ورته و فرمائيل چه هره ورځ د دوی کلمات او حالات لولی او د بل نه يي اورے الله جل جلاله به درته سلامتي درکړی.

او علامه ابن حجرؒ و علامه ابن جوزی په روايت سره د سفيان ابن عيينهؒ په حوالی فرمائي.

عِنْدَ ذِكْرِ الصَّالِحِيْنَ تَتَنَزَّلُ الرَّحْمَةُ.

دنيکانو د ذکرکولو په وخت کښے رحمتونه نازليږی.

او بل د دے وجے نه دا رساله وليکلے شوه چه بعضی معاندينو او حاسدينو په جناب شيخ القران والحديث نابغه عصر شهيدالاسلام غلام حضرت غلام رحمة الله تعالیٰ عليه پسے کومے

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

پروپیګنډې کړې دي او یا کوې د هغې عالمانه جوابات وشي دپاره د دے چه عموماً عوام او خصوصاً طلباء کرام د الله تعالیٰ د یو دوست په باره کښې د بدګمانۍ ښکار کیدونه محفوظ شي ځکه چه د الله تعالیٰ ده.

دوستانو سره عداوت کول د الله تعالیٰ د مَقت او قهر او غضب له دعوت ورکول دي (اَعَاذَنَا اللهُ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى مِنْ غَضَبِهٖ وَغَضَبِ اَوْلِيَائِهٖ بِحُرْمَةِ نَبِيِّهٖ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلَّمَ)

په حدیث قدسي کښے په مختلفو سندونو سره د الله جل جلاله قول د نبي علیه الصلوٰة والسلام مبارك نه منقول دے. محبوب صلی الله تعالیٰ علیه وعلی اله وسلم فرمائي.

اِنَّ اللهَ تَعَالٰى قَالَ مَنْ عَادٰى اَوْ اَذَلَّ اَوْ آذٰى اَوْ اَهَانَ لِيْ وَلِيًا فَقَدْ اذنته بالحرب. وَفِيْ رِوَايَةٍ فَقَدْ اسْتَحَلَّ مُحَارَبَتِيْ وَفِيْ رِوَايَةٍ فَقَدْ بَارَزَنِيْ بِالْمُحَارَبَةِ.

ترجمه: الله تعالیٰ فرمائي چا چه عدوات وکړو (په یو بل روایت کښے راځي) چا چه بے عزتي وکړه (په یو بل روایت کښے راځي) چا چه ضرر ورکړو (په بل روایت کښے راځي) چا چي سپك وکتل زما دوست ته نو بے شکه زه خبر ورکوم دغه سړي لره په جنګ سره (یعني زما د طرف نه ورته د جنګ اعلان دے) او بل روایت کښے راغلي دي چه دغه سړي زما جنګ ځان ته حلال کړو (یعني زما د جنګ مستحق شو) او په یو بل روایت کښے راغلي دي چه زما د محاربې دپاره میدان ته راووتلو.

فایده: په مذکوره حدیث مبارك کښے کلمه د "لِيْ" طرف لغوه ده او

Scanned by CamScanner

داهم جائز دی چه "لی" جار مجرور ظرف مستقر شی څکه چه دا حال واقع شوے دے د "ولیاً" دپاره او "ولیاً" ذوالحال نکره واقع شوے دہ او کله چه ذوالحال نکره وی نو تقدیم د حال پرے واجب دی.

او که څوك وائی چه په دے حدیث کښے کلمه د "محَارَبَتِیْ" راغلے ده او محاربه خو باب د مفاعلے دے او په هغی کښے اشتراك من الجانبین وی نو د محاربی معنی شوه د دواړو طرف نه جنګ کول حلانکه الله تعالیٰ خو په کلمه دکن سره دنیا په سیکنډوکښے ورانه ولے هم شی او بیا اباده ولے هم شی نو د ده په حق کښے د محاربی څه معنی ده او یا دا چی مخلوق چرته د ده د حرب قدرت لری جواب دا دے چه دلته ذکر د ملزوم دے چه محاربه ده او مراد تری لازم دے چه هلاکت دے د حدیث قدسی مقصد محدثین کرام داسے بیانوی.

مَنْ كَرِهَ مَنْ اَحْبَبْتُهٗ عَادٰنِیْ وَ عَانَدَنِیْ وَمَنْ عَانَدَنِیْ فَقَدْ تَعَرَّضَ لِاِهْلَاکِیْ اِیَّاهُ اَشَدُّ الْهَلَاكِ وَاَفْظَعَهٗ.

ترجمه: چا چه زما محبوب بنده بد اوګنړلو ده زما سره عداوت او عناد وکړو او سوك چه زما سره عناد وکړی نو هغه زما سخت او دردناك هلاك ته تعرض وکړو. (نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ غَضَبِهٖ وَعِقَابِهٖ وَ غَضَبِ اَوْلِيَائِهٖ).

الحاصل: هر څوك چه د دے مختصر ے رسالی نه استفاد وکړی نو راقم الحروف ته دے د حسن العاقبه دعاوکړی فَجَزَاكُمُ اللّٰهُ خَيْرَ الْجَزَاءِ وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلَّمَ.

حَرَّرَه الفقیر سید محمد ایازعلی شاه السیفی عُفی عنه بالنبی صلی الله علیه وسلم.

Scanned by CamScanner

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

اسم محض: د دوی مبارک اسم محضه غلام حضرت رحمة الله علیه دے.

(وهو اظهر من الشمس)

کنیت: اسم کنیه د ده مبارک ابو العزیز دے ځکه چه د دوی د مشر ځوی نوم عزیز الرحمن دے.

لقب: خپل ځانته به دوی خادم الدین خادم القرآن الکریم والحدیث الشریف وئیلو خو د خپل مشفق مرشد پیر ارچی و خراسانی مجدد وقت عارف بالله حضرت اخندزاده سیف الرحمن رحمة الله تعالیٰ علیه د طرف نه ورته نابغه لقب ملاؤ شوے وو. دوی مبارک په خپله یوه ورځ فرمائیل چه ماته به مبارک صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه غټ نابغه وئیلو او مفتی نعمان صاحب دامت برکاتهم ته به یی وړوکے نابغه وئیلو.

او د مبارک صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه د طرف نه ورته مطلق ارشاد خط او د ځلورو طریقو سندونه هم ملاؤ شوی وو او د ده مبارک ما ذون خلیفه وو.

د پلار نوم: د پلار نوم یی شهید خواجه محمد حضرت رحمة الله تعالیٰ علیه دے.

Scanned by CamScanner

(تقبّل الله شهادتهما و رفع الله درجتهما)

مذهب اونسبت: مذهباً حنفي وو او مشرباً او نسبةً سیفي وو.

تاریخ پیدائش و جائے سکونت: د افغانستان د ننګرهار ولایت د خوګیانړو په ولسوالۍ کښې د پچیر اګام په کلي کښې په ۱۹۷۴ عیسوي کال کښې زېږېدلے دے.

پاکستان ته هجرت او د سکونت مختلف ځایونه: کله چه دوی مبارک د هجرت سنت ژوندی کړل او پاکستان ته راغلل نو اولاً په انقلاب روډ سوړيزی پېښور کښې استوګنه اختیار کړه او په دغه وخت کښې ده دوی مبارك عمر شریف شل ۲۰ کاله وو بیالس کاله پس د سوړيزی نه ده دیرش کالو پے عمر کښې بناتي کلي ته منتقل شول او هلته یې پنځه کاله قیام وفرمائیلو او بیایی په پنځه دیرش کلنی کښې په اکوړه ختك شیدو نظام آباد کښې سکونت اختیار کړو

(اَللّٰهُمَّ انْصُرْهُمْ وَاَفْرِغْ عَلَيْهِمْ بَرَكَاتِهِمَا بِحَقِّ نَبِيِّكَ وَالْاَنْبِيَاءِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهٖ)

تاریخ شهادت په پېښور اخون آباد نمبر ۴ کښې د جمعې په ورځ په ۱۹ اګست ۲۰۱۶ء باندے د شهادت جام نوش کړو.

(اَللّٰهُمَّ اغْفِرْهُ وَارْحَمْهُ وَاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا مُشَفَّعًا يَوْمَ يَشْفَعُ الْاَنْبِيَاءُ وَ الْاَوْلِيَاءُ وَالشُّهَدَاءُ)

د جمعې د ورځے د وفات فضیلت: عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله تعالیٰ عنه

قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه واله وسلم مَنْ مَاتَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ وُقِیَ عَذَابَ الْقَبْرِ (رواه الترمذی واحمد)

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه څوک د جمعے په ورځ وفات شو نو دے د عذاب قبر نه اساتلے شو.

د مهاجر شهید فضیلت: الله جل جلاله فرمائی: وَالَّذِیْنَ هَاجَرُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ ثُمَّ قُتِلُوْا اَوْ مَاتُوْا لَیَرْزُقَنَّهُمُ اللهُ رِزْقاً حَسَناً وَاِنَّ اللهَ لَهُوَ خَیْرُ الرّٰزِقِیْنَ.

ترجمه: او هغه کسان چی هجرتونه یی کړیدی په لاره د الله تعالیٰ کښے او بیا وژلے شوی دی او یا په خپل مرګ مړه شوی دی خامخا په تحقیق سره روزی به ورکړی دوی لره خدائے تعالیٰ روزی خائسته (یعنی په قبر او جنت کښی) او بیشکه الله تعالیٰ چه دے هم دے غوره د روزی ورکونکو دے.

کل عمر شریف: ټول عمر شریف د دوی مبارک څلویښت (۴۰) کاله وو.

نسب شریف: نسباً دا مبارک خواجه وو او د خواجګانو په نوم باندے په خپلی کلی کښے مشهور دی.

دنیاوی تعلیم: دنیاوی تعلیم کښے دوی مبارک یولسم جماعت کړے وو. د هغے نه روستو یی دینی تعلیم شروع کړو تقریباً په شپږو

Scanned by CamScanner

میاشتو کښې ځلېرېش (۲۴) سپارے حفظ کړے وے.

دینی تعلیم: په مختلفو مدارسو کښې حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه علم دین حاصل کړے دے. مثلاً ابتدائی فنون یې په باړه کهجورے کښې په مدرسه سیفیه کښې لوستلی وو او هم په دغه مدرسه کښې د ځلورو واړو سلسلو اسباق او سندونه سره د مطلق سند حاصل کړی دی.

او بیا په باجوړ ایجنسی کښې د مشهور عالم دین پیر طریقت و رهبر شریعت جناب علامه ضیاء الله صاحب دامت برکاتهم سره علوم دینیه سره د تربیت عجیبه حاصل کړی وو. او په طریقه عالیه نقشبندیه کښې د دوی مرید هم وو او بیایې د پېښور قاسمیه مدرسے کښې هم سبقونه لوستلی دی. او همدغه شان په مهاجر بازار کښې او په دارالعلوم اسلامیه کښې او په چارسده کښې د جناب شیخ الحدیث علامه شیخ ادریس صاحب دامت برکاتهم سره د دورة کبریٰ چند کتابونه لوستلی دی او د جناب شیخ الحدیث علامه روح الامین صاحب دامت برکاتهم سره هم شاګرد پاتے دے.

د حضرت شیخ روح الامین صاحب باره کښې به حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه فرمائیل چه ما د ده نه پوښتنه وکړه چه نبی اکرم صلی الله علیه وعلیٰ اله وسلم روحانی طور باندے احیانا حاضریدے شی که نه نو ماته یې و فرمائیل چه د درس نه بعد څما

کمری ته راشه کله چې کمرے ته ورغلم نو ماته يې وفرمائيل چه يو

ځل زه د ضحئ په تيم کښے جمات ته راغلم اودس مې وکړو او

مخامخ چه مې وکتل نو حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم

مبارك ولاړ وو نو زه به داسے مسئلے نه سنګه انکار وکړم چې ماته

پخپله يقظاناً پيخه شويده.

او دوی مبارك ته د حضرت شيخ الاسلام شيخ الکل فی الکل علامه

شيخ عنايت الله برهانی صاحب دامت برکاتهم د شاګردی شرف هم

حاصل وو. او دشيخ الحديث مولنا محمد جان او حضرت شيخ

الحديث مولانا روح الله صاحب هم شاګرد پاتے شويدے.

او زه فقير د حضرت شيخ صاحب مبارك د شهادت نه بعد د حضرت

شيخ ادريس صاحب او د حضرت شيخ عنايت الله برهانی صاحب

ملاقات ته لاړم هغوی دواړو د حضرت شيخ صاحب رحمة الله تعالیٰ

عليه په شهادت ډير د افسوس اظهار و فرمائيلو او ډيرے دعاګانے ورته وکړے.

اودوی مبارك ته د حضرت شيخ الکل فی الکل عالم ربانی امين الله سيفی دامت برکاتهم دشاګردی شرف هم حاصل وو.

د دارالاحناف امامت: د شل ۲۰ کالو په عمر کښے په اخون آباد

نمبر ۴ کښے په مسجد صديق اکبر رضی الله عنه کښے د امامت په

منصب باندے فائز شو او پوره شل کاله يې دلته امامت و فرمائيلو او

د څلويښت کالو په عمر شريف کښے د الله د طرف نه داعی راغے او

دوی مبارك د هغے اجابت وکړو.

Scanned by CamScanner

وقت فراغت و وقت نکاح: په درویشت ۲۳ کلنی کښې ورته د مروجه فنونو نه فراغت حاصل شو او هم په دغه کال دوی مبارك په یو شریف خاندان کښې د یوې پاکې بی بی سره نکاح وکړه.

بیروني اسفار: د دین د اشاعت د پاره د مختلفو ملکونو سفر فرمائیلے وو مثلاً ایران، افغانستان، سعودی عرب، مسقط، عمان، دُبی وغیره.

(وَاللهِ عَاشَ مَغْبُوطاً وَمَاتَ مَغْبُوطاً فَلِلّٰهِ دَرُّهٗ مَا اَحْسَنَهٗ وَمَا اَجْمَلَهٗ)

حج او عمره: درې ۳ حجونه او تقریباً اوویشت ۲۷ عمرې حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه اداکړې وې.

(اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ عَلٰی مَوْتِ الْاَخْیَارِ وَالْبَقَاءِ مَعَ قَوْمٍ لَا یَسْتَحْیُوْنَ مِنْ فَضِیْحَةٍ وَلَا عَارٍ)

دیني خدمات: د فراغت نه پس تر شهادت تقریباً تول عمر شریف اولس ۱۷ کاله جوړیږی په دے اولس ۱۷ کاله کښې بار بار د رمضان شریف په مبارك میاشت کښې دورة تفسیر القران کړے دے چه الحمد لله راقم الحروف ته یی هم د دوره تفسیر سند په خپل لاسونو مبارکو عطاء کړے دے او هغه دوره تفسیر د اډیو ریکارډ په شکل کښې نن هم موجود دے چه د عوامو او خواصو د پاره یو رنګ مفید دے. بلکه د شمنان تری هم استفاده کوی (اَلْفَضْلُ مَا شَهِدَتْ بِه الاعداد) او په دغه مختصره زندګی کښې یی بار بار د علم النحو دوری هم

Scanned by CamScanner

طالبعلمانو ته لوستلے دے. حتی چه ما پخپله د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه نه اوریدلی دی چه ما د یارلس کاله شرح جامی طالبانو ته درس کړے ده. (سُبْحَانَ الله)

او ما د شیخ لطف الله صاحب دامت برکاتهم نه په اکوړه خټك کښے د حضرت شیخ صاحب په چهلم کښے واوریدل چه د جناب شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه د کافیه ده درس ریکارډ یو طالب سره وو ما واوریدو نو زه یی حیران کړم ډیر په عجیبه انداز یی د کافی مغلق مواضع حل کړی وو.

د هر فن مختلف کتابونه به یی طالبانو ته انفرادی او اجتماعی طریقے سره ښودل او په کرّاتو مرّاتو یی دا احقاق الحق دپاره خپلو شاګردانو ته کورس مناظره کړے دے چه هغه هم اډیو ریکارډ کښے عام ملاویږی او دوست او دشمن ترے یو شان استفاده کوی.

حتی چه د نام نهاد نوجوانان احناف تنظیم بعضی جاسوسانو ورسره هم د مناظرے کورسونه کړی دی او نن دهغه په دلائلو خپل بریتونه تاوی.

اویو ځل یی دوره صُغریٰ په معیت د شیخ عبدالسمیع عزنوی صاحب دامت برکاتهم پړهاؤ کړے ده. چه په دغه کال ورسره مشهور عالم دین مفتی محمد عسکر سعید صاحب هم دوره صغریٰ کښے شرکت کړے وو چه د جامعه احراریه کوهاټ روډ بډه بیر مهتمم دے.

Scanned by CamScanner

او ډیر ښه جیّد عالم دے او د راقم الحروف ډیر قریبی دوست دے او

بیایی تقریباً څلور ۴ کاله مسلسل دوره کبریٰ (غټه دوره) طالبانو ته

ولوستلے ده چه هغه هم د اډیو ریکارډ په شکل کښے موجود ده او

د دے نه علاوه هزارها اډیو او ویډیو بیانات په مختلفو موضوعاتو

باندے د دوی مبارک نن هم موجود دی چه د هغے په ذریعے سره د

زرګونو او لکهونو خلقو اصلاح شوے ده او انشاء الله الرحمٰن اس

پرے هم د ډیرو خلقو اصلاح شروع ده.

او تقریباً په پنځه پنځوس مسائلو باندے د دوی مختلفے رسالے

محفوظے دی. چه په عربی زبان کښے لیکلے شوی دی. زه فقیر د

خدائے تعالیٰ نه دا سوال کوم چه ماله د دے توفیق راکړی چه هغه

ټولے رسالے د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه په پښتو

زبان کښے ستاسو وړاندے پیش کړم. او ان انشاء الله امید دے چه

همداشان به کیږی. او په دغه مختصره زندګی کښے د دوی په لاس

مبارک باندے زرګونه خلق مریدان شول او د ګناه نه یی توبه او

ویستله چه نن هم هغه متشرع په سنتو برابر او خائسته مریدان د

دوی د صدقی جاری په شکل په خپلو عباداتو اذکارو او مراقبو کښے

مشغول دی او د دوی په ارشاداتو باندے پابند او کلک ولاړ دی.

(اَللّٰهُمَّ احْفَظْهُمْ مِنَ الْخُذْلَانِ وَاجْعَلْهُمْ مِنَ الرَّاشِدِيْنَ).

Scanned by CamScanner

د مناظر ے میدان کښې د خصم لاجوابه کول.

یو ځل زمونږه په بهادر کلی کښې د بعضے بے اعتداله خلقو سره مناظره جوړه شوه. زمونږه د طرف نه حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه او زه فقیر د چند علماؤ سره موقع ته حاضر شو زمونږه خصم انتهایی مرعُوب شو. حتی چه د تیختې لاریې تلاش کوله او په هیڅ صورت یې بحث ته غاړه نه ایخوده او نه یې ثالث تسلیمولو بلکه فضول دراز زبانی او بد اخلاقی یې شروع کړه نو حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه ورته وفرمائیل چه بحث نه شروع کوے او ثالث منلو ته نه تیاریږے او نکته چینی کوئ نو تاسو تولو ته زما چیلنج دے صرف د مالك یوم الدین ترکیب راته وکړے نو بس تاسو کټلے او ما بیللے. نو چونکه مقابل جانب سره جواب نه وو نو د فرار لاره یې اختیار کړه.

بیا د بحث نه روستو حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه ماته وفرمائیل چه "مالك یوم الدین" صفت واقع شوے دے دپاره د لفظ الله دلته ما د خپل خصم نه تپوس کولو چه اضافت دلته لفظی اخلی اوکه معنوی ظاهراً خو دا اضافت لفظی ښکاری ځکه چه اضافت د صفت راغلے دے خپل معمول ته او اضافت د صفت معمول خپل ته اضافت لفظی وی او اضافت لفظی افاده د تخصیص کوی د تعریف نه کوی. لهذا چه " مالك" په اضافت سره معرفه نه شوه نو دانکره

Scanned by CamScanner

مُخَصِّصَه پاتے شوه نو صفتیت یې د لفظ الله دپاره صحیح نه شو ځکه چه د صفت او موصوف په درمیان کښې مطابقت فی التعریف والتنکیر ضروری دے او بیایي و فرمائیل چه دا اضافت معنوی دی ځکه چه نحویان فرمائی چه په اضافت لفظی کښې اضافت د صفت شوے وی معمول خپل ته نو مراد دوی د معمول نه فاعل یا مفعول به اخلی او دلته "یوم الدین" مفعول به نه دے بلکه مفعول فیه دے. نو هغه معمول نه شو کوم چه نحات مراد کوی فلهذا دا اضافت معنوی دے لفظی نه دے بیایي و فرمائیل چه په دے باندے دوی چرته پو هیږی.

سخا: د ډیرو صفاتو کمالیو نه (چه د مخلوق مناسب وی) علاوه الله تعالیٰ پکښې صفت د سخا پیدا کړے وو او په دغه صفت د دوی ټول خاندان، شاګردان، مریدان او مقتدیان ګواه دی.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه د سخا واقعه:

د شهباز ګهړی محمد ګل مولوی صاحب وایی چه زما د عمرے اداکولو ډیر خواهش وو خو غربت حصار کړے ووم او زما د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه سره قریبی تعلق وو حتی چه په مردان او ګهړۍ امازو او شهبازګهړه او خواوشا مضافاتو کښې به چا هم حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه ته دعوت ورکونو ماته به یې ویل چه ته ورته دعوت ورکړه نو چونکه زه ورته ګران ووم نو

Scanned by CamScanner

زما په دعوت به هرچا ته راتلو یو ورځ ې ماسره د عمري خبري کولی چی ته عمري ته نه ځی ما عرض وکړو چه وٙس مي نشته نو حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه راته وفرمائیل چه ستاد عمرے د سفر ټوله خرچه به زه برداشت کړم خو زمانوم مه ښکاره کوه. محمد ګل مولوی صاحب فرمائی چه ما ورسره وعده وکړه چه زه به دا راز نه ښکاره کوم نو بیا حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه زما دپاره د عمرے داخله وکړه او ما د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه په معیت کښی په ډیر ښکلی طریقی سره عمره ادا کړه.

مولوی محمد ګل صاحب وائی چه دا د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه زما سره یو پټ راز وو خو د حدیث مبارك د امتثال په نیت می ظاهر کړو محبوب فرمایی "اُذْكُرُوْا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ" الحدیث ترجمه: د خپلو وفات شده کسانو نیکیانے یادوے.

سخاد ایمان علامه ده: محبوب صلی الله علیه وسلم په یو حدیث کښے فرمائی اَلصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ شارحین فرمائی ای حُجَّةٌ عَلٰی اِیْمَانِ مُؤَدِّیْهَااِلَیٰ مُسْتَحِقِّیْهَا. صدقه د صدقه کونکی دایمان دلیل دے.

د سخی نتیجه اخروی: محبوب صلی الله علیه واله وسلم فرمائی سخاوت په جنت کښے یوه ونه ده څوك چه سخی وی نو هغه د دے ونے ښاخ نیولے د. دا ښاخ به یی نه پریګدی ترسو چه جنت ته یی داخل کړی. بحواله التشرف صفحه ۱۵۰.

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه د سخاوت یوه واقعه:

کوهاټ روډ باندې سیفن سره نزدې ګریټ کالونی کښې یو دعوت ته حاضر شوم او دغې دعوت ته مفتی محمد عسکر سعید صاحب او پیر طریقت مولانا سید اشفاق شاه صاحب هم دعوت شوی وو او حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه هم تشریف فرما وو.

مفتی محمد عسکر صاحب راوړاندې شو او حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه ته یې ووئیل چې قربان زما اراده ده چې زما څو مره احباب او دوستان دی چې هغوی ټولو نه درې درې زره چنده غنډه کرم او په هغې باندې د مدرسې دپاره ځائې واخلم تاسو راته دعا کړې چې الله تعالیٰ مې دا خواهش پوره کړی.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه جیب ته لاس کړو او تین هزار روپے یې راوویستلې او مفتی صاحب ته یې حواله کړې چې دا پکښې زما د طرف نه واخله او بیا یې ورته دعا هم وکړه. الحمد لله الله تعالیٰ د هغې دعا له برکته حضرت مفتی صاحب ته هغه ځائې ورکړو چې فی الحال زیر تعمیر دے او ان شاء الله ائنده کښې به د دین اسلام د اشاعت یوه عظیمه اداره ګرځي او د هغې ثواب به د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه روح مبارک ته رسیږی ځکه چې حدیث مبارک کښې راځي.

Scanned by CamScanner

مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ اَجْرُ هَا وَ اَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ اَنْ يَنْقُصَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْئًا.

ترجمه: چاچه يوه نيکه طريقه شروع کړه (ديو نيك كار بنياد يې کيخودلو) نو ده ته به د دے اجر ملاويږي او کوم خلق چه پدغه طريقه عمل کوي نو د هغوي د اجرونو د کمي نه بغير به د هغے د اجرونو پشان اجر دغه طريقه شروع کونکي ته ملاويږي.

د حضرت شيخ صاحب رحمة الله تعالىٰ عليه د سخا دريمه واقعه:

په ۲۰۱۴ کښے ما درمضان په مياشت کښے طالبانو ته دوره تفسير القرآن شروع کړے وو په اخره ورځ د دورے مے خپل مشفق او مهربان استاد او شيخ ته دعوت ورکړے وو خو اتفاقاً پدغه ورځ زمونږه په کلي کښے يو بد عقيده سړے مړ شو.

ماته خپلو رونړو او ترونو اووئيل چه ختمانه دلوډ سپيکر د استعمال نه بغير وکړے زه غصه شوم او زما دخلے نه قسم اووتو چه زه به دا په هر صورت په لوډ سپيکر کښے کوم. کله چه حضرت شيخ صاحب رحمة الله تعالىٰ عليه تشريف راوړو نو زما د خاندان يو شخص ورته زما ګيله وکړه چه ده ته ووايه چه پروګرام د لوډ سپيکر د استعمال نه بغير وکړي حضرت شيخ صاحب رحمة الله تعالىٰ عليه زه اغوختم او ډير په شفقت سره يې ماته و فرمائيل چه زه خبر شوم چه په دے محله

کښې مړے شوے دے.

ما ووئیل هو قربان نو حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه تبسم وکړو او وے فرمائیل چه بیا خو لود سپیکر لګول ماته مناسب نه ښکاری نو ما عرض وکړو چه صیب ما قسم کړے دے چه لوډسپیکر به خامخا استعمالوم هغوی راته و فرمائیل چه د قسم کفاره دلسو ۱۰ مسکینانو درمیانه طعام دے هغه به زه ستا د طرف نه ادا کړم خو لوډ سپیکر مه لګوه. نو ما فوراً معافی اغوخته او عرض مے وکړو چه صیب بلکل به لوډ سپیکر نه استعمالوم او کفاره د قسم به زه پخپله ادا کړم انشاء الله نو هغوی ډیر خوشحاله شو.

ادب: د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه په دوره حدیث کښې عادت دا وو چه ټول شاګردان یې د شریعت په اتباع مامور ګرځولی وو د پټکی نه بغیر طالب علم به یې په درس حدیث کښې نه پریخو دو. او کوم طالب علم چه به درس حدیث کښې شرکت کولو نو اولاً به یې هغه ته د غسل او اودس تلقین ورکولو او بعد د اودس نه به یې وربانده تحیة الوضو رکعتین اداکړو او د هغے نه بعد به یې ورته په درس کښې د ناستے اجازت ورکولو.

از خدا خواهیم توفیق ادب   بے ادب محروم گشت از فضل رب

بے ادب تنها نه خود را داشت بد   بلکه آتش در همه افاق زد

Scanned by CamScanner

محبتِ رسول صلی اللہ تعالیٰ علیه واله وسلم.

دحضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه د دوره تفسیر دویم کال وو چه راقم الحروف ته د دے د شاګردے شرف حاصل شو دوی مبارك په اوله ورځ د درس د افتتاح نه مخکښے مونږه ټولو طالبانو ته و فرمائیل چه د درس نه وړاندے ټول پنځه پنځه سوه کرت درود شریف ولولے نو بیا به درته درس شروع کوم.

په دغه ورځ تقریباً دوه نیم سوه یا درے سوه طالبان موجود وو هغوی ټولو پنځه پنځه سوه کرته درود شریف تلاوت کړو او حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه په خپله هم تلاوت کړو دهغے نه بعد ئے درس شروع کړو. علماء کرام فرمائی چه د نبی اکرم صلی الله علیه وعلی واله وسلم سره د محبت ډیرے علامے دی یوه عظیمه علامه یی داده چه د محبوب علیه الصلواة والسلام په ذات شریف به درود شریف ډیر ډیر وائی بلکه علامه سخاوی رحمة الله علیه فرمائی چه کثرت سره درود شریف وئیل د اهل سنت والجماعت (د جنتی ډلے) علامه ده (بحواله القول البدیع للسخاوی و فضائل درود للعلامة زکریا)

د مدینے منورے د یو خادم واقعه:

حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه یو ځل وفرمائیل چه د مردان د علاقی یو عاشق رسول چه مدینه منوره کښے اوسیدو هغه

Scanned by CamScanner

راته خپله واقعه بیان کړه چه زه مدینه منوره کښے د روضة الرسول
صلی الله علیه واله وسلم سره قریب او سیږم او د مسجد نبوی او د
محبوب علیه الصلوٰة والسلام د روضے مبارکی خدمت کوم زه په
چهتی باندے کلی ته راروان وم تیکټ مے کټ کړے وو صبا ته زما
فلائیټ وو د شپی مے حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په
خوب کښے ولیدو. مبارك راته وفرمائیل چه زه خبر شوے یم چه ته
پاکستان ته روان یی.

وایی ما عرض وکړو او قربان د لړوخت دپاره کلی ته ځم او بیا واپس
راځم وایی چه مبارك راته وفرمائیل چه ته کله پاکستان ته لاړ شی نو
هلته غلام حضرت مولوی صاحب ته ورشه او زما سلام ورته وو یه او
بیا دا ورته وو ایه چه ته کله درس حدیث کوے او زما نوم درته مخے
ته راشی نو ته په ما درود شریف وائی نو هغه ستا درود شریف ماته
رارسیږی خو تانه پکښے زما اولاد پاتے وی او زه په خپل اولاد
خوشحالیږم نو کله چه ما باندے درود شریف لولے نو زما اولاد
باندے هم درود شریف وایه.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائیل چه کله دغه
عاشق راته خوب بیان کړو نو ما فوراً لیپ تاپ راواخستو او د خپل
دوره حدیث ریکارډ مے واوریدو نو رشتیا وه چه زمانه په درود شریف
کښے وعلی اله الفاظ پاتے کیدل د هغی نه بعد بیا ما عزم وکړو چه

Scanned by CamScanner

محبوب علیه الصلاة والسلام مبارك په خپل اولاد د خوشحالیږی نو زه به درود شریف کښې د دوی اولاد هم شریکو مه.

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه عاجزی:

په ۲۰۱۴ء کښې په پهبنور ښار کښې د نشتر آباد سره قریب په میلاد هاؤس کښې جناب پیر طریقت مولانا جبرائیل امین صاحب دامت برکاتهم یو عظیم پروګرام منعقد کړے وو چه هغے ته د پهبنور او پنجاب بلکه د افغانستان نه لوی لوی علماء کرام او مشایخ عظام را دعوت شوی وو په دغه میلاد کښې حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه هم مدعو شوے وو دوی مبارك تقریر کولو دغه دوران کښې یو سالك باندے جذب راغے.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه وفرمائیل چه والله العظیم زه چه کله یو سالك د جذب او وجد په حال کښې وګورم نو زه د خالق رب ذوالجلال نه سوال کوم چه اِلٰه چه د دی شهرت او علم ظاهری په ځائے کاشکی ماته ددغه سالك دا حال ملاو شوے وے زما محترمو لوستونکو رونړو دا د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه کمال عاجزی وه ورنه دوی مبارك په خپله د څلور سلسلو یو شیخ او ماذون خلیفه وو بلکه اکثر حالاتو کښې به په دوی مبارك بنادے د کاملینو پشان وجد طاری کیدو چنانچه علامه اشرف علی تهانوی صاحب فرمائی.

Scanned by CamScanner

۲۷٦. حال او وجد: عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شِخِّيرٍ عَنْ اَبِيْهِ رضی الله عنهم قَالَ اَتَيْتُ النَّبِيَّ صلی الله علیه واله وسلم وَهُوَ يُصَلِّيْ وَلِجَوْفِهٖ اَزِيْزٌ كَاَزِيْزِ الْمِرْجَلِ يَعْنِيْ يَبْكِيْ وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ رَاَيْتُ النَّبِيَّ صلی الله علیه واله وسلم يُصَلِّيْ وَفِيْ صَدْرِهٖ اَزِيْزٌ كَاَزِيْزِ الرَّحٰى مِنَ الْبُكَاءِ. (رواه احمد و روی النسائی الروایة الاولیٰ وابو داود الثانیه).

ترجمہ: حضرت مطرب بن عبدالله ابن شخیر رضی الله عنه اپنے باپ سے روایت کرتے ہیں انھوں نے کہا کہ میں نبی کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم کے پاس آیا آپ نماز پڑھ رہے تھے اور آپ کے سینے میں ایسی آواز تھی جیسی پکنے کے وقت ہانڈی کی آواز ہوتی ہے اور ایک روایت میں ہے کہ جیسی چکی کی آواز ہوتی ہے اور یہ آواز رونے کی سبب تھی اور آپ رو رہے تھے۔

''ف'' کیسی حالت غریبہ محمودہ وجد کھلاتا ہے، یہ حالت آپکی اس قبیل کی تھی اور کاملین کا وجد اکثر ایسا ہی لطیف ہوتا ہے۔ صعقہ، تمزیق، ثیاب وغیرہ نہیں ہوتا اور جس کو وہ بھی بے اختیار ہو معذور ہے۔ (التکشف عن مهمات التصوف لاشرف علی تهانوی صفحه ٦٦١)

د جناب شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه تو له شپه ژړاکول.

ما په خپله د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه نه اوریدلی دی او نن هم ماسره په اډیو ریکارډ کښې موجود دی چه دوی فرمائیل چه زه کله حج ته لاړم نو هلته دیو شخص سره د حاجی محمد امین رحمة الله علیه د خپل لاس لیکلے د خپل حج واقعه ماته ملاؤ شوه هغه چه ما ولوستله نو په هغې کښې دومره تاثیروو چه ما ورتے

Scanned by CamScanner

تو له شپه ژړلي وو.

سبحان الله محترمو لوستونکو صوفيه کرام رحمهم الله هم ديته جذب او وجد وائي اګر چه جذب او وجد ډير اقسام لري خو ژړا پکښې اعلی قسم دے (کذافي الاحياء)

د عاجزۍ دويمه واقعه او صوفيه کرامو کثرالله سوادهم سره حُسن عقيدت.

په شهباز ګهړه کښې د حضرت اخندزاده پير ارچي خراساني رحمة الله تعالی عليه خليفه سلطان محمد مولوي صاحب او سيړی چه عبادت او رياضت کښې شهرت لري جناب شيخ صاحب رحمة الله تعالیٰ عليه به ورته ډيره ښکلے عقيده ساتله حتیٰ چه د هغه علاقې بعضي سالکانو ماته ووئيل چه دلته په شهباز ګهړه کښے حضرت شيخ صاحب رحمة الله تعالیٰ عليه يو پروګرام کښے وفرمائيل چه که څوک ورته سلطان محمد مولوي صاحب ماته د خپلے يوے شپے عبادت ثواب رابخښي نو زه به ورته د ټول عمر د عبادت ثواب ورېخم.

سبحان الله ديته وائي کمال عاجزي او حسن عقيدت په صوفيه کرامو کَثَّرَ اللّٰهُ تعالیٰ سَوَادَهُمْ وَرَحِمَ اللّٰهُ عَبْدًا قَالَ اٰمِيْنًا.

د درس تاثير: د مردان ګوجر ګهړی سره نژدے په يوه جلسه کښے ما بيان وکړو زما د بيان نه بعد د هغے علاقے يو مشهور عالم شيخ

Scanned by CamScanner

الحدیث علامه هاشم صاحب دامت برکاتهم زما په تائید کښے یو څو اختتامي کلمات و فرمائیل او بیائې ووئیل چه باچا صاحب ډیرے ښکلے خبرے وکړے او دا ټول د شیخ القرآن والحدیث جناب غلام حضرت صاحب برکت دے او بیا یې خپله واقعه بیان کړه چه زه د شیخ الحدیث مولانا شیخ ادریس صاحب د بابا جي مولانا شهزاده صاحب مرحوم نورالله مرقده شاګرد پاتے شوے یم اوزه د شیخ الحدیث شیخ اسرائیل صاحب شاګرد پاتے شوے یم خو صرف یو ورځ دارالاحناف ته اتفاقاً لاړم او په دغه ورځ جناب شیخ صاحب طالبانو ته د دوره حدیث افتتاح کوله.

نو زه په درس کښے شریك شوم والله العظیم چې ما څومره د جناب شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه په درس کښے تاثیر او تحقیق اولیدو دومره ما په یو درس کښے نه وو لیدلے.

(سبحان الله ذالك الفضل من الله یؤتیه من یشاء)

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه حاضر جوابي.

یوه ورځ د موسیٰ زئی په علاقه کښے په کور کښے د طعام دعوت وو په هغے کښے ډیر علماء مَدعُو وو حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه هم تشریف فرما وو. په دے دوران کښے یو ملا را داخل شو او وې وئیل چه دا خو ټول صغائر او کبائر راغلي دي.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه ورته بلا مکث وفرمائیل

Scanned by CamScanner

چه صغائر او کبائر مه وایه ځکه چه دلته ډیر پرهیزګار او تقویٰ دار علماء تشریف فرما دی د هغے بے ادبی لازمیګی ځکه چه حمل د صغائر او کبائر په دے علماؤ نه صحیح کیږی ځکه چه صغائر جمع د صغیرة ده او کبائر جمع د کبیرة ده او صغیره او کبیره هر واحد صفت د ګناه جوړیګی د ګناه کونکی نه جوړیګی مګر په تاویل سره ای ذوصغیره و ذو کبیرة فلهذا په دے کښے حمل د صفت لازمیږی په ذات مع الوصف باندے او داجائز نه دے فلهذا صغائر او کبائر وئیل صحیح نه دی بلکه اصاغر او اکابر یا کبار وئیل پکار دی (او یا صُغراء او کُبراء وئیل پکار دی).

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه ولایت:

زمونږه د علم کلام کتابونه دولی الله تعریف داسے بیانوی.

هُوَ الْعَارِفُ بِاللهِ وَاَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ اَلْمُوَاظِبُ عَلَى الطَّاعَاتِ اَلْمُجْتَنِبُ عَنِ الْمَعَاصِیْ اَلْمُعْرِضُ عَنِ الْاِنْهِمَاكِ فِی اللَّذَّاتِ وَالشَّهَوَاتِ (شرح المقاصد و مجموعة الرسائل لابن عابدین)

ترجمه: ولی وئیلے شی هغه شخص ته چاته چه دالله تعالیٰ او د الله تعالیٰ د اسماء او صفاتو معرفت حاصل وی او څوك چه مواظبت کوی په نیکیو باندے او د ګناهونو نه ډډه کوی او څوك چه اعراض کوی د ښکته کو زیدونه په لذاتو او شهواتو کښے.

مصداق د دے تعریف: الحمدلله په مُنصِفینو پته نده چه دا تعریف

په اکمله او اتمه وجه باندے په حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه باندے صادق وو او په خپل عصر کښے د الله جل جلاله په دوستانو کښے یو عظیم الشان دوست وو او د دوی د بیعت او توجو او ارشاد د برکته سوونه او زرګونه خلق په عقیده دا هل السنة والجماعة او دالله تعالیٰ په دوسے باندے مشرف شول. او همیشه دنیکو پابندوو او د معاصِی او ګناهونو نه اجتناب پسندوو.

د ولی الله علامه: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما قَالَ رَجُلٌ یَارَسُوْلَ اللهِ مَنْ اَوْلِیَاءُ اللهِ؟ قَالَ الَّذِیْنَ اِذَا رُؤُوْا ذُکِرُ اللهُ (تفسیر ابن کثیر ج۳ ص ٤٩٧)

ترجمه: د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه یو شخص عرض وکړو یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اولیاء کرام څوک دی محبوب و فرمائیل هغه کسان دی کله چه ولید ے شی نو الله پاك یادکړے شی یعنی دهغے په لیدلو خلقو ته خدائے پاك رایاد شی.

الحمدالله دا صفت الله تعالیٰ حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه ته وکړے وو د هغه مبارك په لیدو به خلقو ته خدائے تعالیٰ یادیدو.

دالله تعالیٰ کلام او اولیاء کراموته بُشریٰ.

الله تعالیٰ په سورة یونس کښے پاره نمبر۱۱ آیت نمبر ٦۴ کښے د اولیاء کرامو باره کښے فرمائی.

لَهُمُ الْبُشْرٰی فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَفِی الْاٰخِرَةِ (الایة)

Scanned by CamScanner

ترجمه: دوی لره زیری دی په ژوند دنیاوی کښې او په آخرت کښې د بُشریٰ نه څه مراد دی. حضرت عباده ابن صامت رضی الله عنه د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه واله وسلم نه پوښتنه وکړه چه دا اخرت زیرے خو مونږه پیژندلے دے چه جنت دے نو داد دنیا زیرے څه شی دے رسول الله مبارک صلی الله علیه واله وسلم ورته و فرمائیل چه دا ښائسته خوبونه دی چه دا بنده (ولی د خدائے) یی په خپله ګوری او یا د ده په حق په نور خلقو لیدلے شی.

(تفسیر ابن کثیر جلد ۲ صفحه ۴۹۹)

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه خپل چند مناجات صالحه:

یو ځل راقم الحروف ته د حضرت پیر طریقت رهبر شریعت فخرالاولیاء سید نورعلی شاه باچا صاحب آف تاروجبه یو خلیفه ګیله وکړه چه شیخ صاحب مبارک تیره جمعه په صحبت د ذکر کښې خپلو مریدانو او شاګردانو ته وئیلی دی چه د حضرت سید نورعلی شاه باچا صاحب مبارک مریدان دے بل ځائے کښې تجدید بیعت وکړی ځکه چه باچا صاحب مبارک ضعیف شوے دے.

وَکَیْتَ وَ ذَیْتَ. (حالانکه دا تول په حضرت شیخ صاحب علیه الرحمة باندی د بعضی حاسدانو افتراء وه)

ما جواباً ووئیل چه دا د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه د بعضی

Scanned by CamScanner

حاسدانو د طرف نه په حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه باندے افترئ ده. حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه د باچا صاحب او د الله تعالیٰ د جمله دوستانو باره کښے ډیره د ادب او عقیدت نظر لری خو بیا هم زه د هغه د تسلی دپاره ځو ورځے پس د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه ملاقات ته ورغلم نو ما ورسره دا خبره شریکه کړه هغه مبارك ووفرمائیل چه دا چا غلط نقل کړے دے. قصّه دا وا چه زما په صحبت ذکر کښے یو نعت خوان د حضرت مبارك رحمة الله علیه منقبت ووئیلو او دا منقبت جناب سید نور علی شاه صاحب مبارك جوړ کړے وو او په هغے کښے یی د حضرت مبارك صاحب سره انتهائی د محبت او عقیدت اظهار کړے وو او خپله ډیره زیاته عاجزی یی ظاهره کړے وا نو حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه وفرمائیل چه ما د نعت خوان نه مائیك را اُغوختلو او سالکانو ته مے ووئیل چه بعضی خلق وائی چه باچا صاحب مبارك ته دا فیض او نور د مبارك صاحب رحمة الله علیه نه نه دے ملاؤ شوے نو ما سالکانو ته ووئیل چه تاسو د باچا صاحب مبارك دے کلام ته سوچ وکړے چه څومره د کمال عشق او محبت اظهار یی د مبارك صاحب رحمة الله علیه سره فرمائیلے دے. او هغه اشعار دا دی.

یـم مداح ستا د حسن جانانه　　اے خواجه حضرت سیف الرحمانه
خـاکپاء د مـبارك گدایم　　سید نـور علی شاه صاحب گویایم

Scanned by CamScanner

رابــطه رابــطه غـوارم له تانه اے خواجه حضرت سيف الرحمان حضـرت شيـخ صـاحب رحـمة الله عـليه وفرمائيل چه ما سالكانو ته اووئے چه د دے نه پته لگی چه باچاصاحب مبارك ته دا تول كمال او بزرگی د مبارك صاحب رحمة الله عليه په بركت ملاؤ شويده او بيا ددينـه پس د ډير سالـكانو په وړاندی راقم الحروف ته حضرت شيخ صـاحب رحمة الله عـليـه خپـل يو خوب هم بيان كړو او هغـه دا چه حضرت شيـخ صاحب رحمة الله عليه و فرمائيل چه ما يو ځل خوب ليـدو چه حضـرت مبارك صاحـب رحـمة الله عـليه زما ژبه په خوله كښـے نيـولی وی او روی يی او بيا مے څو ورځے پس خوب ليدو چه تارو شريف ته تلے يم او ده اُودَسُونو په ځائے كښـے حضرت نور علی شاه باچا صاحب مبارك ولاړوی زه چه ورشم نو هغه زما ژبه په خله كښـے اُنيسی او روِی يی بيـا شيـخ صاحب رحمة الله عليه تواضعًا و فـرمائيـل چه نـه پـوهيـږم چه د دے به څه مطلب كيـدے شی خو ما تعبير داسـے اوويستـو چـه كيـدشی زما دوجے د دغـے دواړو اولياؤ رحـمهـما الله سلـسلـے تـه تـقـويت ملأ شی او بيايی و فرمائيل زه د حضـرت باچا صاهـب رحـمة الله عـليه متعلق ډيره ښه عقيدت لرم ځـكـه چه زما والـد صـاحب حضرت خواجه صاحب مبارك به د باچا صاحب مبارك صحبت ذكر ته د زَنډِی نه تارو شريف ته پيدل تلو.

فـايده: حضـرت شيـخ صـاحب رحمة الله عـليــه چه څنگـه تعبير

Scanned by CamScanner

ویستلے وونو دا واقعیت هم دے چه د حضرت مبارك صاحب رحمة الله علیه د سلسلی عالی سیفیی څومره خدمت دوی مبارك وکړو. دومره خدمت د بل چا نه ښکاری (وَمَنْ كَانَ فِي هَٰذِهِ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي الْآخِرَةِ أَعْمَىٰ)

بلکه هر منکر چه د حضرت مبارك صاحب رحمة الله علیه په ذات شریف یا په سلسله شریفه کوم اعتراض کړیدے ده مبارك ورله د قرآن او سنت په رنړه کښے داسے ښکلی ښکلی جوابات ورکړیدی چه د منکرنیو پرے تشفی شویده او د انکار نه یی توبه ویستے ده او د مبارك صاحب په دے پاکه سلسله کښے داخل شوے دے (او راقم الحروف د هغی ډیر شواهد پیش کولے شی).

(۲) ما فقیر چه په کوم کال د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه سره دوره تفسیر کولو نو چه کله د سوره ابراهیم آیت نمبر ۳۷ ته اورسیدو نو دغلته مفسرین کرامو رحمهم الله مثلاً تفسیر مظهری ج ۵ ص ۲۷۷ کښے د ابراهیم علیه الصلواة والسلام واقعه ذکر کړیده چه ده مبارك دالله تعالیٰ په امر بی بی هاجرهؓ او حضرت اسماعیلؑ راروان کړل او د بیت الله شریف په خواکښے د مکی معظمی په دشته کښے پریخودل چه هلته هیڅ څوك نه وو او نه هلته اوبه وے او ابراهیمؑ دی له صرف یو تهیلی کښے چند کهجورے اویو مشکیزه اوبه ورکړے او د خپل کلی په طرف ترے راروان شو نو بی بی هاجره

Scanned by CamScanner

رضی اللہ تعالیٰ عنھا وریسے را روانہ شوہ او بار بارئی ابراھیمؑ تہ فرمائیل چہ تہ چرتہ ځی او مونږہ ولی پہ داسے دشتہ کښے اومیرہ کښے پریدے چہ نہ پکښے انسان شتہ او نہ بل شی خو ابراھیمؑ بہ ورتہ نہ کتل بالاخر بی بی ھاجرہؓ عرض وکړو۔ "ءَ اللّٰهُ اَمَرَكَ بِهٰذَا قَالَ نَعَمْ قَالَتْ اِذًا لَا يُضِيْعُنَا"

ایا دا درتہ اللہ داسے امر کړے چہ دوی پریګدہ او تہ ترے راځہ ابراھیمؑ وفرمائیل چہ او نو بی بی ھاجرہؓ وفرمائیل چہ وس بہ مونږہ اللہ نہ ضائع کوی څہ تہ لاړ شہ.

الغرض ابراھیمؑ تری لاړو او چہ د دوی د سترګو نہ پناہ شو نو بیت اللہ شریف تہ مخامخ کیناستو او دوی تہ یی دعاګانے وکړے او بیا د کلی پہ طرف روان شو او بی بی ھاجرےؓ سرہ ھغہ اوبہ او کھجورے لږوخت بعد ختمے شوے او اسماعیل علیہ السلام د شودو معصوم وو دلوږے نہ یی ژبہ مبارکہ پہ خولہ کښے اړولہ راړاولہ. بی بی ھاجرےؓ دا نشو برداشت کولے نو د صفا طرف تہ لاړہ او بیا د صفاء نہ مروہ تہ لاړہ او اووہ ۷ ځلی دا کار وکړو حتیٰ چہ اللہ تعالیٰ فرشتہ راولیږلہ.

دلتہ حضرت شیخ صاحب رحمۃ اللہ علیہ وفرمائیل چہ ما بیګاہ تفسیر کتلو پہ ھغے کښے مے دوہ خبرے اولیدلے ١. فَبَحَثَ بِعَقِبِهٖ ٢. فَبَحَثَ بِجَنَاحِهٖ حَتّٰى ظَهَرَ الْمَاءُ دغہ فرشتے د اسماعیلؑ پوندہ پہ زمکہ

Scanned by CamScanner

وو هلـه او زمـکـه کښـے یی کُوغـالـے وکه او یا دا چه په خپل وزریی زمـکـه اوکنستله نو د زمزم چینه ښکاره شوه شیخ صاحب رحمة الله عـلیه وفرمائیل چه ما دُعا وکړه چه اِلهٰ کومه خبره چه راجحه وی ماته یی ښـکـاه کـړه . وائـی چـه زه وده شـوم نـو گـورم چـه د مکی معظمی دشتـه ده حضرت اسماعیلؑ گورم چه وړوکـے ماشوم دے شګو کښـے پـروت دے بی بی هاجرهؓ گورم چه د صفا او مروه په طرف روانه ده. بیا گـورم چـه حـضـرت جبـرائیلؑ رشی او د اسماعیلؑ پونده اونیسی او په زمکه یی ووهی نو د زمزم چینه راښکاره شی.

حـضـرت شیـخ صـاحب رحمة الله علیه وفرمائیل چه کله رابیدار شوم نـو مـا د خـدائـے تـعـالیٰ حـمـد ادا کړو او زه پوه شوم چـه دا اولـه خبره راجحه ده.

(۳) د مـوسیٰ زئی انقلاب روډ مولانا نظر گل صاحب راقم الحروف ته ووئیـل چـه مـا یـو ځـل د میـلاد شـریف پـروگرام دپاره حضرت شیخ صـاحـب رحـمة الله عـلیـه له دعوت ورکړو د شپـے می خوب لیدو چه زمـونـږه مسـجـد کښـے میـلاد شریف وی او حضرت انـس ابن مالك رضـی الله عـنـه سره د دریو نورو صحابه کرامو علهیم رضوان تشریف راوړے وی او خپـلـو کښـے خبـرے کـوی او وائـی چـه دے محفل تـه غـلام حـضـرت مولوی صاحب راروان دے هغه چه بیان وکړی دهغے نه بعد به ځو.

نظرګل صاحب وائي چه ما بیا دا خوب حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه ته بیان کړونو هغوی ډیر خوشحاله شو او وے فرمائیل چه دالله تعالیٰ نیکان بندیګان روحانی طور باندے احیاناً باذن الله مجالسو د خیر ته حاضری کوی.

(۴) د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه د شهادت په ورځ یو طالب العلم په خوب کښے د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه واله وسلم سره ملاقات کړے وو محبوب ورته خوب کښے وفرمائیل چه نن غلام حضرت مولوی صاحب شهید شوے دے زه د هغه په انتظار کښے یم.

(نوټ) د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه د شهادت نه تر اوسه پورے ډیرو علماو او خواصو او عوامو دومره ډیر منامات صالحه (ښائسته خوبونه) لیدلی دی چه دا مُختصر کتاب د هغے د ذکر ګنجائش نه لری.

(وفیما ذکرتُ کفایةٌ لاولی الالباب)

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه اعتدال:

حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه ته الله جل جلاله ډیر ښکلی ښکلی صفات ورکړی وو چه مِن جمله د هغے نه د اعتدال نظریه وه چه همیشه به یی د افراط او تفریط په مذمت باندے تقاریر کول او خلقو ته به یی د اعتدال او میانه روی تعلیم ورکولو. الحمدالله نن هم

Scanned by CamScanner

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه د انصاف او اعتدال نه ډك آډیو او ویډیو بیانات عام ملاویږی او د سوونو خلقو اصلاح پری کیږی.

(مسئله د علم غیب او د عصر حاضر د خلقو افراط او تفرایط)

د رسول اکرم صلی الله علیه واله وسلم د علم غیب باره کښے د انصاف نظریه خو داده چه رب کریم دوی ته په ډیره لویه پیمانه علم غیب عطائی جزی ورکړے دے او په تمام مخلوق کښے اعلم الناس (ډیر علم واله د ټولو خلقونه) یی د دوی مبارك ذات ګرځوے دے او انتها د علم د محبوب صرف رب کریم ته معلوم ده خو بیا هم عطائی دے او جُزی دے او حادث دے او غیر مستمر دے.

لیکن بعضی خلقو د تفریط جانب اونیولو او هغوی د علم غیب د نبی کریمؐ نه کُلًا او بعضاً ذاتاً او عَطاءً انکار وکړو حتی چه بعضی حضراتو کتابونو کښی اولیکل چه مونږه د رسول پاك صلی الله علیه واله وسلم دپاره نه د علم غیب کلی قائل یو اونه د علم غیب جُزی که چرے مونږه د علم غیب جُزی قائل شو نو بریلیان به کلی مشرکان وی او مونږه به جُزی مشرکان یو (تحفة المناظر ص ۳۷۲).

لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ (نوټ) ددی قائل په نزد راروان علماء کرام جُزی مشرکان دی (نعوذبا الله) او بعض خلقو د علم غیب کلی محیط تفصیلی دعوه وکړه حتی چه قائلین د علم غیب جُزی دا هل

Scanned by CamScanner

السنت والجماعة د دائرې نه خارج گڼړي او کاش چه په دے خپله عقيده يې چرته نص قطعي الثبوت او قَطۡعِيَ الدَّلالته ياحديث متواتر يا لااقل اجماع الامة پش کړے وے. دا حضرات صرف يو نيم بيتے په دليل کښې پش کوي چه فلان شاعر وائي چه ذرے ذرے نه خبر دار دے ولے نه يې مني.

او حضرت شيخ صاحب رحمة الله عليه به په دے مسئله کښے په دواړو فريقو رد کولو او فرمائيل به يې چه دايو فريق د تفريط ښکار شوے دے او دا بل د افراط ښکار شوے دے او صراط مستقيم پکښے دادے چه علم غيب د محبوب عليه الصلوٰة والسلام کلي ذاتي تفصيلي محيط په زره زره باندې ندے بلکه جُزي عطائي دے او دا مذهب د امت مسلمه د مُسَلَّمُ اکابرينو او د جماهيرو دے او دا نظريه د اعتدال نظريه ده زه راقم الحروف وايم چه په دے مسئله کښې حضرت شيخ صاحب رحمة الله عليه مُنفَرِد نه دے بلکه د اُمت مسلمه لوي لوي اشخاص هم ورسره په دے مسئله کښے متفق دي. مثلاً

۱. علامه ابن عابدين شامي حنفي رحمة الله عليه فرمائي.

اَلۡخَوَاصُ يَجُوزُ اَنۡ يَعۡلَمُوۡا الۡغَيۡبَ فِي قَضِيَّةٍ اَوۡ قَضَايَا كَمَاوَقَعَ لِكَثِيۡرٍ مِّنۡهُمۡ وَ اشۡتَهَرَ

(مجموعة الرسائل لابن عابدينؒ ج ۲ ص ۳۱۱)

ترجمه: جائز دي چه خواص بنديګان په يوه واقعه کښے يا چند و

Scanned by CamScanner

قائعو کښې علم غيب ولري او داخبره د ډير خواصو دپاره واقع شوې هم دې او مشهوره شوې هم ده.

محل الاستشهاد:

په مذکوره قول کښې کلمة د فِي قَضِيَّةٍ اَوْ قَضَايَا نه معلوميږي چه علم غيب د خواصو جُزي وي کلي محيط نه وي ورنه فِي الْقَضَايَا كُلِّهَا اَوْ بِاَسْرِهَا وئيل پکارول

۲. علامه ابن حجر مکي رحمة الله عليه فرمائي:

وَمَا ذَكَرْنَاهُ فِي الْاٰيَةِ صَرَّحَ بِهِ النَّوَوِيُّ رَحْمَةُ اللهِ عليهِ فِي فَتَاوَاهُ فَقَالَ مَعْنَاهُ لاَ يَعْلَمُ ذَالِكَ اِسْتِقْلاَ لاً وَعِلْمَ اِحَاطَةٍ بِكُلِّ الْمَعْلُوْمَاتِ اِلَّا اللهُ تَعَالٰى (فتاوى حديثه ص ۲۲۸)

ترجمه: دا مونږه چه کوم تفسير د دې ايت کريمه ذکر کړو په دې باندې امام نووي رحمة الله عليه په خپل فتاوى کښې تصريح کړې ده او فرمائيلي دي چه د دې آيت کريمه معنى داده چه نه پوهيګي په غيب باندې استقلالي طور باندې او په ټولو معلوماتو داحاطي په طور باندې سوا د الله تعالىٰ نه.

(۳) امام فخرالدين الرازي رحمة الله عليه فرمائي.

وَهٰذَا يُنَبِّهُكَ عَلٰى اَنَّ الْاِلٰهَ يَجِبُ اَنْ يَكُوْنَ عَلِماً بِكُلِّ الْمَعْلُوْمَاتِ (تفسير كبير ج ۷ ص ۵٤۳)

Scanned by CamScanner

ترجمه: او دا تفسير تالره خبر درکوی چه بے شك الله لره واجب دی چه دے به عالم وی په کل معلوماتو (يعنی علم کلی ذاتی محيط خاصه ده الوهيت ده)

او بل ځائے کښے فرمائی:

لِاَنَّهٗ لَايَلْزَمُ مِنْ کَوْنِهٖ نَبِيًّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ تعالىٰ اَنْ يَّكُوْنَ عَالِمًا بِجَمِيْعِ الْقَصَصِ وَ الْوَقَائِعِ. (تفسير کبير جلد۷ ص ٤٧٧)

ترجمه: ځکه چه نبی عليه الصلواة والسلام د نبوت سره دا لازمه نه ده چه دا مبارك دے په ټولو قصو او وقاتعو باندے عالم وی. (بلکه گهے برطارهم اعلیٰ نشينم /گهے بر پشت پائی خود نه بينم.

(۴) علامه ابن کثير د مشقی رحمه الله عليه فرمائی.

اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ الْغَيْبَ جَمِيْعَهٗ. (تفسير ابن کثير جلد ٤ ص ٤٠٣)

ترجمه: بے شك په ټولو غيبو صرف الله تعالیٰ پو هيږی.

(۵) محمود الوسی رحمة الله عليه فرمائی.

وَاخْتَار. بَعْضُهُمْ الْاِسْتِغْرَاق اَیْ لَايَعْلَمُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ كُلَّ غَيْبٍ اِلَّا اللّٰهُ فَاِنَّهٗ سُبْحَانَهٗ يَعْلَمُ كُلَّ غَيْبٍ لِاَنَّهُ الْاَوْفَقُ بِالْمَقَامِ. (تفسير روح المعانی جلد ۲۰ ص ۱۱)

ترجمه: او بعض مفسرينو استغراق مختار کړے دے يعنی نه پو هيږی هغه څوك چه اسمانونو کښے دی (يعنی ملائك) او هغه څوك چه په زمکه کښے دی په ټولو غيبو باندے سواء د الله تعالیٰ

Scanned by CamScanner

نه څکه چه الله تعالیٰ په ټولو غیبو باندے پوهیږی او دا تفسیر ډیر موافق دے د دے مقام سره. او بل ځائے کښے فرمائی:

وَالَّذِیْ اُخْتُصَّ بِهٖ تَعَالٰی اِنَّمَا هُوَ عِلْمُ الْجَمِیْعِ . (تفسیر روح المعانی جلد ۲۰ ص ۱۱)

ترجمه: او هغه علم غیب چه الله تعالیٰ پورے خاص دے هغه ټول علم غیب دے.

(٦) حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه او علم د قیامت.

(یَسْـئَلُوْنَكَ) یَا اَکْمَلَ الرُّسُلِ (عَنِ السَّاعَةِ) وَقِیَامِهَا الَّتِیْ هِیَ مِنْ جُمْلَةِ الْغُیُوْبِ الَّتِیْ لَانُطْلِعُ عَنْ دَرَجَاتِهَا وَ مَقَامَاتِهَا اَحَداً عَلَیْهَا (اَیَّانَ مُرْسٰهَا) اَیْ مَتٰی اِرْسَاؤُهَا وَ اِقَامَتُهَا وَفِیْ اَیِّ اَنِ اِتْیَانُهَا وَقِیَامُهَا عَیِّنْ لَنَا وَقْتَهَا؟ (فِیْمَ اَنْتَ مِنْ ذِکْرٰهَا) اَیْ اَنْتَ فِیْ اَیِّ شَیْءٍ وَشَاْنٍ مِنْهَا اَنْ تَذْکُرَ لَهُمْ وَقْتَهَا اَوْ تَعِیْنَهَا مَعَ اَنَّا لَا نُطْلِعُكَ عَلٰی وَقْتِهَا اِلٰی اَنْ قَالَ اِذْهِیَ مِنْ جُمْلَةِ الْغُیُوْبِ الَّتِیْ اِسْتَاْثَرَ اللهُ بِهَا وَلَمْ یَطَّلِعْ اَحَداً عَلَیْهَا. (تفسیر الجیلانی جلد٦ ص ۲۸۷)

ترجمه: اے د ټولو مرسلانو کامله دا خلق پوښتنه کوی تاسو نه د قیامت د قائمیدو په باره کښے کوم چه د هغے د غیبو د جملے نه دے چه ددے په درجاتو او مقاماتو مونږه هیڅ چا ته اطلاع نه ورکوو چه کله به وی قائمیدل د دغے قیامت او په کوم وخت کښے به ددے راتلل او قائمیدل وی پوښتنه داکوی چه مونږه ته ددے وخت

Scanned by CamScanner

معین کړه نو تاسو په کوم څیز کښې یې او په کوم حالت کښې یې
دیاد د قیامت نه دا چه یاد کړې دیته وکت د قیامت.
او تعین د قیامت باوجود ددې چه مونږه تاله اطلاع نه درکو په وخت
د قیامت .... إلی ان قال .... ځکه چه دا قیامت د هغه
غیبو نه دې چه الله تعالیٰ پرې مُتَفَرِّد دې او هیڅ چاته پدې اطلاع
نه ورکوی.
او پیران پیر صاحبؒ فرمائی په تفسیر د آیة الاحزاب کښې.
(يَسْئَلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ قُلْ) لَهُمْ يَا اَكْمَلَ الرُّسُلِ بَعْدَ مَا اقْتَرَحُوا عَلَيْكَ عَنْهَا
(اِنَّمَا عِلْمُهَا) اَیْ عِلْمَ قِيَامِهَا وَتَعِيْنَ وَقْتِهَا (عِنْدَ الله) الْعَلِيْمِ الْحَكِيْمِ لَا يُطْلِعُ عَلَيْهَا
اَحَدًا مِنْ خَلْقِهِ بَلْ هِیَ مِنْ جُمْلَةِ الْغُيُوْبِ الَّتِی اِسْتَأْثَرَ اللهُ بِهَا فِی غَيْبِهِ الخ.
(تفسیر جیلانی جلد ٤ ص ٣٩٥)
ترجمه: پوښتنه کوی تاسو نه خلق د قیامت باره کښې ورته و فرمایا
اے د ټولو مرسلانو ډیر کامله پس د هغې نه چه دوی د قیامت باره
کښې تاسو نه مطالبه کوی چه علم د قیامت د قائمیدو او د تعین د
وقت د دے الله تعالیٰ علیم حکیم سره دے. هیڅ یو کس ته د مخلوق
خپل نه په قیامت اطلاع نه ورکوی بلکه دا د هغه غیبو د جملے نه
دے چه الله تعالیٰ پری مُتفرد دے.

حضرت پیران پیر صاحب رحمة الله علیه او یوه قاعده.

د سوره قدر آیة مبارکه باندے فرمائی.

Scanned by CamScanner

(وَمَا اَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ) يَا مُحَمَّدُ لَوْلَا اَنَّ اللّٰهَ اَعْلَمَكَ بِعِظَمَتِهَا فَكُلُّ مَافِي الْقُرْاٰنِ (وَمَا اَدْرَاكَ) فَقَدْ اَعْلَمَهُ وَ مَا فِيْهِ (وَمَايُدْرِيْكَ) فَلَمْ يُدْرِهْ وَلَمْ يُطْلِعْهُ عَلَيْهِ كَقَوْلِهٖ عَزَّوَجَلَّ (وَمَايُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا) الاحزاب ٦٣. وَمَا بَيَّنَ لَهٗ وَ قْتَهَا. (الغنية لطالبی طريق الحق عزوجل جلد٢ ص ١٦ دار الكتب العلمية

(ترجمه از مترجم شمس بريلوی)

وَمَا اَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ. یعنی اے محمدؐ اگر اللہ آپ کو شب کی قدر اہمیت وعظمت نہ بتاتا تو آپ کو کیا معلوم ہوتا کہ شب قدر کیا ہے قرآن مجید میں جس مقام پر بھی "وَمَا اَدْرَاكَ" ایا ہے تو اللہ نے اپنے پیغمبر کو اس چیز کی اطلاع دے دی ہے اور جہاں۔ وَمَا يُدْرِيْكَ آیا ہے تو اللہ تعالیٰ نے آپ کو اسکی اطلاع نہیں دی جیسے "وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا. کس نے تمہیں بتایا کہ قیامت عنقریب آنے والی ہے چنانچہ قیامت کا وقت رسول خدا صلی اللہ علیہ والہ وسلم پر منکشف نہیں ہوا تھا۔ غنية الطالبين مترجم شمس بريلوی صفحه ٣٦٠).

فائده: كوم حضرات چه ځان پيران پير صاحب مبارك رحمة الله عليه ته تش په خُله منسوبوی هغی دے د مبارك پدے قاعده كښے سوچ او فكر وكړی چه هغوی مبارك علم الساعة صفة الباری تعالی گرځوے دے او محبوب عليه الصلوٰة والسلام نه ی منفی كړيدے.

(٧) امام نسفی حنفی رحمة الله عليه او علم د قيامت

(قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي) اَیْ عِلْمَ وَقْتِ اِرْسَائِهَا عِنْدَهٗ قَدِ اسْتَاْثَرَ بِهٖ لَمْ يُخْبِرْ بِهٖ اَحَدًا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ وَلَانَبِيٍّ مُرْسَلٍ. (تفسير المدارك جلد ١ صفحه ٤٥٤)

ترجمه ورته وفرمايا چه علم د قيامت زما د پروردگار سره دے يعنی

Scanned by CamScanner

علم د د قائمیدو د قیامت الله سره دے او الله تعالیٰ مُتَفرِّ دے (خاص دے) په علم د قائمیدو د قیامت او په دے یی هیڅ چا ته خبر نه دے ورکړے نه مقربی فرشتی ته او نه نبی مرسل ته.

۸. قاضی ثناء الله پانی پتی مجددی رحمة الله علیه او علم د قیامت.

(قُلْ) یَامُحَمَّدُ (اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّی) اِسْتَأْثَرَ بِعِلْمِهَا لَا یَعْلَمُهَا اِلَّاهُوَ لَمْ یُطْلِعْ عَلَیْهِ مَلَکاً مُقَرَّبًا وَلَا نَبِیًا مُرْسَلاً. الخ (تفسیر مظهری جلد ۳ صفحه ٤٤٠)

ترجمه وفرمایا اے محمد صلی الله علیه واله وسلم چه بے شکه مضبوطه خبره داده چه علم د قیامت زما د پوردیگار سره دے خدائے تعالیٰ خاص دے په علم ددے او علم نلری د قیامت (د قائمیدو) سوا دده نه بل څوك او ده اطلاع نده ورکړے په دغه علم نه مقربے فرشتے ته او نه نبی مرسل ته.

۹. علامه خطیب شربینی رحمة الله علیه او علم دقیامت

(اِلٰی رَبِّكَ مُنْتَهٰهَا) اَیْ مُنْتَهٰی عِلْمُهَا لَمْ یُؤْتِ عِلْمُهَا اَحَدًا مِنْ خَلْقِهٖ کَقَوْلِهٖ تعالی "اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّی" (الاعراف ۱۸۷) و قَوْلِهٖ تَعَالیٰ " اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ" (لقمان ایت ۳٤) (تفسیر سراج المنیر جلد ٤ ص ٥٤٦)

ترجمه: منتهی د علم د قیامت رب ستاته ده او د قیامت علم یی یو کس د مخلوق ته نه دے ورکړے. لکه سنګه چه سورة اعراف آیت ۱۸۷ کښی راغی چه بے شك علم د قیامت الله سره دے او سنګه چه

په سورة لقمان آیت ۳۴ کښې راځي چه بے شك الله تعالیٰ سره دے علم د قیامت.

(۱۰) علامه قرطبی رحمة الله علیه او علم د قیامت

(فِیۡمَ اَنۡتَ مِنۡ ذِکۡرٰهَا) یَجُوۡزُ. اَنۡ یَکُوۡنَ اِنۡکَارًا عَلَی الۡمُشۡرِکِیۡنَ فِیۡ مَسَائِلِهِمۡ لَهٗ اَیۡ فِیۡمَ اَنۡتَ مِنۡ ذٰلِكَ حَتّٰی یَسۡئَلُوۡنَكَ بَیَانَهٗ وَلَسۡتَ مِمَّنۡ یَعۡلَمُهٗ رُوِیَ مَعۡنَاهُ. عَنِ ابۡنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما وَالذِّکۡرٰی بِمَعۡنَی الذِّکۡرِ (اِلٰی رَبِّكَ مُنۡتَهٰهَا) اَیۡ مُنۡتَهٰی عِلۡمِهَا فَلَا یُوۡجَدُ عِنۡدَ غَیۡرِهٖ عِلۡمُ السَّاعَةِ. (تفسیر قرطبی جلد ۱۹ ص ۱۸۲)

ترجمه: (فِیۡمَ اَنۡتَ مِنۡ ذِکۡرٰهَا) جائز دی چه دا دے په مشرکانو انکار شي چه هغوی د نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم نه د قیامت باره کښې سوالونه کول یعنی په څه شئ کښې یې تاسو اے محبوب علیه الصلوٰة والسلام د قیامت باره کښې چه دوی تاسو نه د قیامت د بیان باره کښې سوالونه کوی حالانکه تاسو د هغه چانه نه یې چه سوك د قیامت علم لری او د دے تفسیر معنی د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی ده. او (ذِکۡرٰی) په معنی د ذکر ده. (اِلٰی رَبِّكَ مُنۡتَهٰهَا) رب ستاته منتهیٰ د علم د قیامت ده نو د ده نه بغیر بل چا سره علم د قیامت نشی موجود دے.

نوټ: اگر چه د علماؤ او مفسرینو او محدثینو نور تصریحات هم موجود دی مثلًا مولانا نصیرالدین غورغشتوی رحمة الله علیه د مشکواة په هامش فرمائی.

Scanned by CamScanner

فَاِنَّ عِلْمَ السَّاعَةِ مُخْتَصٌّ بِهِ اللّٰهُ تعالٰى لَا يَعْلَمُهَا اَحَدٌ مِنْ خَلْقِ اللّٰهِ تعالٰى.

ترجمه: پس بے شکه چه علم د قیامت مختص دے الله تعالیٰ پورے او د الله تعالیٰ د مخلوق یو کس هم پرې نه پوهیږي.

خو زه په دغه لس اقوالو کفایت کوم او ان شاء الله چه کوم منصف هم دا اقوال وګوري هغه به د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه باره کښے د بعضی شذر او نذرو پشان زبان درازي نه کوي. بلکه دا خبره په تسلیموي چه علم غیب جزي عقیده د غټو غټو مفسرینو کرامو او اولیا کرامو عقیده ده بلکه د بغداد د لوی ځوان رحمة الله تعالیٰ علیه عقیده ده.

تنبیه: شاید بعضی حضرات د دے مذکوره عباراتو په رد کښے د چند بزرګان دین د عباراتو نه استدلال وکړي او قائلین د علم غیب جزي د اهل السنة والجماعة د دائرے نه خارج کړي. مثلاً علامه صاوی رحمة الله علیه فرمائي.

وَالَّذِيْ يَجِبُ الْاِيْمَانُ بِهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ لَمْ يَنْتَقِلْ مِنَ الدُّنْيَا حَتّٰى اَعْلَمَهُ اللّٰهُ بِجَمِيْعِ الْمُغَيَّبَاتِ الَّتِيْ تُحْصَلُ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ فَهُوَ يَعْلَمُهَا كَمَا هِيَ عَيْنُ يَقِيْنٍ لَمَّا وَرَدَ رُفِعَتْ لِيَ الدُّنْيَا فَاَنَا اَنْظُرُ فِيْهَا كَمَا اَنْظُرُ اِلٰى كَفِّيْ هٰذِهٖ وَوَرَدَ اَنَّهُ اُطْلِعَ عَلَى الْجَنَّةِ وَ مَا فِيْهَا وَالنَّارِ وَمَا فِيْهَا وَغَيْرَ ذٰلِكَ مِمَّا تَوَاتَرَتْ بِهِ الْاَخْبَارُ وَلٰكِنْ اُمِرَ بِكِتْمَانِ الْبَعْضِ. (حاشیه الصاوی علی تفسیر الجلالین جلد ۲ ص ۱۳۶)

Scanned by CamScanner

ترجمه: او هغه خبره چه ایمان سائل پرے واجب دی هغه داده چه رسول الله ﷺ د دنیا نه تر هغے نه دے منتقل شوے تر سو چه الله تعالیٰ ورله علم د ټولو هغه مغیباتو ورکړو کوم چه په دنیا او اخرة کښې حاصلیږی نو نبی علیه الصلوٰة والسلام مبارك په دے په عین الیقین سره پوهیږی ځکه چه روایت کښے راغی چه دنیا ماته پورته کړے شوه او زه ورته داسے ګورم سنګه چه دے خپل تلی (ورغوی) ته ګورم او داهم وارد شوی دی چه ده مبارك ته جنت او په جنت کښے د هر څیز اطلاع ورکړی شویده او د مبارك ته د جهنم او په جهنم کښے د هر څیز اطلاع ورکړی شویده او ددے نه علاوه نورو اشیاؤ باندے هم په کوم چه پے درپے روایت راغلی دی. خو لیکن د بعضی په ټولو دوی ته امر شوے وو او شاید چه سوك د شیخ عبدالحق رحمة الله علیه دا عبارت پیش کړی.

وانها از امور غیب اند که جز خدا کسی آن را نداند مگر انکه وی تعالیٰ از نزد خود کسی را بدانا ند بوحی والهام. (اشعة اللمعات جلد ۱ ص ۴۸)

ترجمه: دغه علوم خمسه د امور غیبه د جملے نه دی دخدائے تعالیٰ نه سوا څوك پرے نه پوهیږی مگر دا چه دوحی او الهام په ذریعه پی خدائے تعالیٰ د خپل جانب نه پوه کړی.

او شاید چه قائلین د علم غیب کلی محیط د امام بوصیری رحمة الله علیه شعر پیش کړی یا د ملاعلی قاری او د ابن حجر مکی او د امام

Scanned by CamScanner

قسطلاني او امام مناوي وغيره اقوال پش کړي نو راقم الحروف جواب کښې اولاً وايم چه عقايدو دپاره نص قطعي الثبوت او قطعي الدلالت پکار وي يا حديث متواتر او يا اجماع الامة پکار وي اخبار احاد سره هم عقيده نه ثابتيږي نو د بزرگان دين په اقوالو به څنګه ثابته شي.

اوګورے شرح مواقف ص ۷۲۷ شرح فقه اکبر ۶۸ مکتوبات د فتراول ص ۳۳۵ شرح عقايد ص ۱۷۰ انباء المصطفی س ۴ الدوله المکية ص ۸۲.

ثانيا دا وايم چه په خپله دوی ته مسلم عالم دين جناب غلام الرسول سعيدی صاحب دا اعتراف کړے چه د علم غيب کلي عقيده په دليل قطعي الثبوت او قطعي الدلالت سره ثابته نه ده فلهذا ظني ده نو دد ے منکر ته د کفر نسبت کول صحيح نه دی (بحواله مقام ولايت و نبوت) ص۵۵

نوټ:. علم غيب کلي تفصيلي محيط ذاتي خاصه د الله تعالی ده کچرته زه په دے نصوص پش کول وغواړم نو د هغی نه به د دفتر عظيم جوړ شي. فلهذا ما ډير اختصار کړے دے او په دے مسئله تفصيلي بحث فقير په الاستفسارات مع الجوابات جلد ثاني کښې کړے دے. ثالثاً داوايم چه په خپله علامه صاوي رحمة الله عليه علم غيب کلي محيط تفصيلي خاصه د الله ګرځولے ده. فرمائي.

(وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ) فَهُوَ كَالدَّلِيلِ لِمَا قَبْلَهُ كَأَنَّهُ قَالَ الْعَذَابُ وَالرَّحْمَةُ بِقُدْرَةِ

Scanned by CamScanner

اللهِ وَلا يَعْلَمُ وَقْتَ مَجِيْ ذٰلِكَ اِلاَّ اللهُ لِاَنَّهُ عِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لا يَعْلَمُهَا اِلاَّ هُوَ وَعِنْدَهُ خَبَرٌ مُقَدَّمٌ وَمَفَاتِحُ الْغَيْبِ، مُبْتَدَاءٌ مُؤَخَّرٌ وَ تَقْدِيْمُ الظَّرْفِ يُؤْذِنُ بِالْحَصْرِ وَهُوَ مُنْصَبٌّ عَلَى الْجَمِيْعِ فَلاَ يُنَافِيْ اَنَّ بَعْضَ الْاَنْبِيَاءِ وَالْاَوْلِيَاءِ يَطَّلِعُهُ اللهُ عَلٰى بَعْضِ الْمُغَيَّبَاتِ الْحَادِثَةِ قَالَ اللهُ تَعَالٰى " عَالِمُ الْغَيْبِ فَلاَ يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖ اَحَداً اِلاَّ مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَسُوْلٍ" وَاَمَّا مَنْ قَالَ اَنَّ نَبِيَّنَا اَوْغَيْرَهُ اَحَاطَهُ بِالْمُغَيَّبَاتِ عِلْماً كَمَا اَحَاطَ عِلْمُ اللهِ بِهَا فَقَدْ كَفَرَ..... اِلٰى اَنْ قَالَ............ (لاَيَعْلَمُهَا) اَىِ الْخَزَائِنَ اَوِ الطُّرُقَ تَفْصِيْلاً اِلاَّ هُوَ وَاَمَّا عِلْمُنَا فِيْهَا فَهُوَ عَلٰى سَبِيْلِ الْاِجْمَالِ. حاشیه الصاوی علی تفسیر الجلالین جلد ۲ صفحه ۲۴

ترجمه: دایشان د دلیل دے د ماقبل دپاره ده گویکه الله تعالیٰ و فرمائیل چه عذاب او رحمت دالله تعالیٰ په قدرت کښے دی او دالله تعالیٰ نه علاوه د دے د راتګ په وخت څوک نه پوهیږی په هغے مګر هم دے او "عنده" خبر مقدم دے او "مفاتح الغیب" مبتدا موخره ده او تقدیم د ظرف چه دے دا خبر ورکوی په حصر باندے او دا منصب دے په ټولو.

نو منافات نشته داچی بعضی انبیاء کرام او اولیاء کرام ته اطلاع ورکړی الله تعالیٰ په بعض مغیباتو حادثو باندے. ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی زه په ټولو غیبو عالم یم او الله تعالیٰ خبر نه ورکوی په خپلو غیبو باندے یو کس ته هم مګر دا چه راضی شی دیو رسول دپاره.

اوهر چا چه ووئیل چه زمونږه نبی علیه الصلوٰة والسلام او یا بل

څوك علم محيط په ټولو مغيباتو لري لكه څنګه چه الله تعالىٰ علم

محيط په ټولو مغيباتو لري داكس كافر شو. بيا اخر كښے فرمائي (لا

يعلمها) په دغو خزانو او طرقو تفصيلي طور باندے نه پو هيږي مګر

همدغه الله تعالىٰ او هر چه زمونږه علم دے په ديكښے نو هغه په

سبيلي داحمال دے.

رابعاً داوايم چه زما د شيخ صاحب رحمة الله عليه راى داعتدال وه

هغه مبارك دعلم غيب كلي تفصيلي محيط قائل نه وو. ما بفضل

الله دا ثابته كړه چه هغوى په دے عقيده كښے متفرد نه وو بلكه

سَلَفاً خَلَفاً عظيم المرتبت اشخاص هم د ده مبارك سره متفق وو.

پاتے شوه دا خبره چه دعلم كلي عقيده سائل څنګه دى نو چونكه

لوى لوى اكابر هم په دے باندے قول كوى يعني كُلي اجمالي فلهذا راقم الحروف دهغى

تغليظ او ترديد نه كوى بلكه صرف هغه غُلاة او افراطيان چه هغى

قائلين دعلم غيب جُزى ته اهل السنة والجماعة نه وائي صرف د

دغے د خاطره مے دابحث څه قدر طوالت سره ذكر كړو.

حلانكه علامه احمد رضا خان صاحبؒ په فتاوى رضويه جلد ۲۹

صفحه ۴۱۴ نه تر صفحه ۵۴۰ پورے دعلم غيب په مسئله يو

طُولاني بحث كړے دے. چه اولاً يې مسائل درى ۳ قسمونو ته

تقسيم كرى.

۱. ضروريات دين (۲) ضروريات عقايد اهل السنة (۳) وه مسائل جوعلماء

Scanned by CamScanner

اهل السنۃ میں مختلف فیہ ہوں۔(بفتح اللام).

او بیا یی د علم غیب مسئله په دولس شقونو تقسیم کړے ده او بیا یی دا دولس واړه شقونه په دغه دریو قسمونو د مسائلو باندے تقسیم کړیدی نو د علم غیب جزی عطائی عقیده یی د ضروریات دین د مسائلو نه ګرځولے ده او د علم غیب کلی او علم الساعة وغیره عقیده یی د مسائلو اختلافیو نه ګرځولے ده او آخر کښے فرمائی چه. ان میں مثبت اور نافی کسی پر معاذ اللہ کفر کیا معنی ضلال یا فسق کا بھی حکم نہیں ہو سکتا۔

(فتاویٰ رضویه جلد ۲۹ ص ۴۱۵)

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه د اعتدال یو بل مثال.

د نن عصر بعضی خلقو دیوبندیت ته د دین او د مذهب مرتبه ورکړیده او بعضی نورو خلقو بریلویت ته د دین او مذهب مرتبه ورکړیده حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه به د دواړه قسمه خلقو ردکولو او دابه یی فرمائیل چه زه نه دیو بندی یم او نه بریلوی یم بلکه زه سُنی حنفی یم او الحمد لله دا دیو اعتدال نظروو.

ځکه چه دیو بندیت او بریلویت د دین او د مذهب نومونه نه دی او نه د حق معیار دی او نه پکښے حق مقصور او محصور دے اګر چه اهل حق پرست په دواړو کښے شته. د حق او انصاف خبره داده چه چه که څوك ځان ته دیوبندی وائی او یا څوك ځان ته بریلوی وائی دا دواړه نسبتی نومونه دی یا به یی د دیوبند او یا د بریل مدرسه کښے

سبقونه وئیلي وي او یا به ئې استاذان یا پیران دیوبندیان او یا بریلویان وي نو څکه به څانته دیوبندي او یا بریلوي وائي. فلهذا دے نومونو کښے څه قباحت نشته لیکن دے کښے دین منحصر کول بے انصافي ده او دا خبره کول چه دیوبندیت او بریلویت دا اهل السنة والجماعة دپاره یا د حقیت دپاره فصل ممیز دے دا محض غلو او افراط دے.

څکه چه دیوبندیت او بریلویت د پاکستان، افغانستان او هندوستان نه علاوه ډیرو ملکونو کښے بالکل څوك پیژني نه حالانکه د څلور مذهبونو پیروکاران ټول په ټوله اهل السنة والجماعة دي. همدغه شان دنن نه سل ۱۰۰ کاله وړاندے علماء مشایخ او مفتیان نه دیوبندیان وو او نه بریلویان وو بلکه پکا اهل السنة والجماعة سنیان حنفیان وو.

نو معلومه شوه چه دیوبندیت او بریلویت مدار د حق ندے بلکه محض د نسبت په طور استعمالیږي.

بس هم دا نعره د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه وه خوافسوس دا دے چه بعضي بریلویانو او بعض دیوبندیانو ورله غلط شکل ورکړو او حَسَداً مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِم یې په جناب شیخ صاحب رحمة الله علیه باندے د بیت العنکبوت پشان اَوْهَنْ اَوْ اَضْعَفْ اعتراضات شروع کړل خو بفضل الله تعالیٰ د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه

Scanned by CamScanner

عزت او مقام کښې هیڅ کمې رانغې بلکه نورهم پرې د هغوی مبارك عزت او مقام او چت شو. (کمالایخفی علی ذَوِیُ الْبَصِیْرَۃِ والانصاف)

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه د خپل زبان یو واقعه.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه یو ورځ ماته وفرمائیل چه ماله د دیوبندی علماؤ یو وفد راغې چه په هغې کښې تر کراچی پورې مفتیان وو دوی ماته اووئیل چه ته د حضرت شیخ ادریس صاحب دامت برکاتهم شاګردیې اوکنه؟

شیخ صاحبؒ وفرمائیل چه ماووئیل چه الحمدلله زما د هغه په شاګردۍ فخر دے دوی ووئیل چه هغه خو د موجوده دور د یوبندی علماؤ په اکابرو کښې راځی نو ته بیا ولې ځانته دیوبندی نه وایې پکار دے چه ته اعلان وکړې چه زه دیوبندی یم.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه وفرمائیل چه ماورته ووئیل چه زه یو عذرلرم د هغې دوجې زه اعلان نشم کولے. دوی وئیل چه څه عذر لرې.

شیخ صاحب رحمة الله علیه وفرمائیل چه ما ورته ووئیل چه عذر مې دادے چه تاسو د دیوبندیت نه دین جوړ کړے او تاسو حقیت او حنفیت په دیوبندیت کښې محصور کړے دے که چرته تاسو دیوبندیت ته د مذهب او مسلك او معیار حق مقام نه وے ورکړے.

Scanned by CamScanner

نو ما به فخراً اعلان کړے وو چه زه دیوبندي یم. خو ستاسو د دغې نظریه دوجې زه دا اعلان نشم کولے.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه وفرمائیل چه دوی اووئیل چه مونږه هم دغې نظرې ته غلط نظریه وایو نو بیا زمونږه او ستا فرق څه شو حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه وفرمائیل چه ماووئیل چه فرق شته او هغه دا چه تاسو هغه حنفیت منئ چه دیوبندیت پرے اثر کړے وی او هغه حنفیت نه منئ چه دیوبندیت پرے اثر نه وی کړے او زه هغه دیوبندیت منم.

چه حنفیت پرے اثر کړے وی. حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه وفرمائیل چه دوی ووئیل چه داخبره صحیح ده خو مونږه څه وکړو پاکستان کښے زمونږه دا مجبوری ده چه مونږه به ځانته دیوبندیان وایو. حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه وفرمائیل چه ماورته ووئیل ستاسو خیل کار دے کو زه ځانته سنی حنفی وایم.

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه دا واقعه او ددې موافق نظریه راقم الحروف سره اډیو او وېډیو ریکارډو نو کښے موجوده ده لاجل التطویل هغه متروک ګرځوم او که څوک خواهشمندوی هغوی دے ما سره ملاقات وکړی ان شاء الله زه به یې مطمین کړم.

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه د اعتدال یو بل مثال.

بعضې حاسدانو د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه باره کښے دا

Scanned by CamScanner

اشاعت کولو چه ده د الغوث الاعظم حضرت شیخ عبدالقادر الجیلانی رحمة الله علیه نه انکار کړے دے.

(سُبۡحَانَكَ هٰذَا بُهۡتَانٌ عَظِيۡم)

حالانکه هغه مبارك د افراطیانو او تفریطانو داصلاح کوشش کولو خوافسوس چه هغوی د قبلولو په ځائے غلط نقلونه شروع کړل.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه به فرمائیل چه غیر مقلدین و هابیان د حضرت پیران پیر شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه په شان کښے تفریط (کمے) کوی او بعضی شُذرنُذر د پیران پیر صاحب رحمة الله علیه په شان کښے افراط (زیاتے) کوی.

او وایی چه د ده قدم د انبیاء علهیم السلام نه علاوه د تمام اولیاؤ مَا سَبَقَ وما تَاَخَرَہ اِلٰی قِیَامِ السَّاعَۃِ په ګردن پروت دے او دلیل کښے دا مقوله د پیران پیر رحمة الله علیه پش کوی چه "قَدَمِیۡ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللهِ" زما دا قدم د الله تعالیٰ د هرولی په ګردن پروت دے.

حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه به د دے مقولی شریفی صحیح مَحۡمَلۡ بیانولو او د دغے افراطیانو او غلاتو رد به یی کولو چه داخلق زیاتے کوی نو دوی په عوامو کښے اشاعت شروع کړو چه غلام حضرت مولوی صاحب د الغوث الاعظم رحمة الله علیه نه انکار کړے دے. (لَیًّا بِاَلۡسِنَتِهِمۡ وَ طَعۡنًا فِی الدِّیۡنِ).

حالانکه حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه په ترخه کښے د

Scanned by CamScanner

مجذوب بابا رحمة الله علیه په مسجد کښې دوه نیمې ګهنټې بیان د پیران پیر رحمة الله علیه په مناقبو فرمائیلې دے او نن هم د راقم الحروف سره موجود دے. او دوی مبارك به فرمائیل چه مراد د هغه اولیاء کرامو نه چه د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه قدم د هغوی په ګردن پروت دے د پیران پیر صاحبؒ د زمانې اولیاء کرام دی، مَاتَقَدَّمَ مخکښې اولیاء کرام مراد نه دی ځکه چه په هغې کښې صحابه کرام علیهم رضوان داخل دی او هغه بالا جماع د ده مبارك نه افضل دی.

او همدغه شان متاخرین کل اولیاء کرام هم مراد نه دی ځکه چه روستو اولیا امام مهدی رضی الله عنه او حضرت عیسیٰ علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام راروان دے او هغوی دواړه مبارکان د ده مبارك نه افضل دی او دا د اعتدال او انصاف نظریه ده بلکه بعینه دا تشریح د حضرت مجدد الف ثانی رحمة الله علیه نه منقول ده نو کوم حضرات چه ددغی تشریح دوجې حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه باندې اعتراضات کوی هغوی به د حضرت مجدد الف ثانی رحمة الله علیه باره کښې څه فتوی ورکوی.

او زه فقیر د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه شاګرد دلوستونکو رونړو په خدمت کښې د حضرت مجدد الف ثانی رحمة الله علیه هغه تشریح بلفظه و عینه سره د ترجمې پش کوم او د فیصلې اختیار هم

Scanned by CamScanner

لوستونکو رونړوته ورکوم (وَاللّٰهُ يَهْدِي السَّبِيلَ وَهُوَ يُوَفِّقُ لِلسَّدَادِ وَالصَّوابِ)

مکتوبات شریف د فتراول حصه پنجم ص ۱۱٦ پر سیده بوده که قدمی هذه علی رقبة کل ولی الله حضرت شیخ عبدالقادر فرموده و دیگرے نیز همین راگفته حقیقت این معامله چیست وپرسیده که مراد از اولیائے که قدم ایشان برگردن آنها بوده اولیائے همان عصر اند یا مطلقاً.

ترجمه: سوال شوے دے چه حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه فرمائی چه "قدمی هذه علی رقبة کل ولی الله" زما دا قدم په گردن د هر ولی الله دے او نورو اولیاؤ هم دا خبره کړے ده ددے معاملی حقیقت څه دے او سوال شوید ے چه مراد د اولیاؤ نه چه د دمبارك قدم د هغی په گردن دے د ده د زمانے اولیاء کرام دی او که مطلق دی.

جواب:. انچه حضرت شیخ عبدالقادر قدس سِرّه فرموده قدمی هذه علی رقبة کل ولی الله صاحب عوارف که مرید و مربا ے شیخ ابو النجیب سهروردی آست که از محرمان و مصاحبان حضرت شیخ عبدالقادر بوده آست این کلمه را ازان کلمات ساخته است که مشایخ عجب اند که از مشایخ در بدایت احوال بواسطه بقایا سکر صدور یافته اند و در نفحات از شیخ حماد د باس که از شیوخ حضرت شیخ آست نقل. کرده است. که او بطریق فراست فرموده است که این عجمی را قدمیست که دروقت

وے برگردن همه اولیاء خواهد بود هر آئینه مامور بشود بآنکه بگوید
قدمی هذه علی رقبة کل ولی الله و هر آئینه انر بگوید و همه اولیاء گردن
بلنهند بهر تقدیر حضرت شیخ دراین کلام محق اند این کلام خواه از بقا
ے سکراز یشان سربرزده باشد و خواه مامور باشد باظهار این کلام قدم
ایشان برگردن هائے جمیع اولیاء ان وقت بده است و جمیع اولیاء آن
وقت زیر قدم ایشان بو ده اند لیکن باید دانست که این حکم مخصوص
باولیاء ان وقت است اولیاء ما تقدیم و ماتاخرازاین حکم خارج اند۔

چنانکه از کلام شیخ حماد مفهوم میشود که قدم او در وقت وے برگردن
همه اولیاء خواهدبود و نیز غوثے که دربغداد بوده است و حضرت شیخ
عبدالقادر و ابن سقاوعبدالله بر زیارت او رفته بو دند ان غوث بطریق
فراست درحق شیخ گفته که مے بینم ترا در بغداد که بمبربرآمده و
میگوئی قَدَمِیْ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کلِ ولی الله. ومے بینم اولیاء وقت ترا که همه
گردنهائے خود راپست کرده اند اجلال و اکرام ترا از کلام این بزرگ
نیز مفهوم میشود که ان حکم مخصوص باولیاء ان وقت بوده است در
این وقت نیز اگر کسی راحضرت حق سبحانه و تعالیٰ چشم بینا عطا
فرماید بیند چنانچه ان غوث دیده بود که گردنهائے اولیاء ان وقت زیر
قدم وے اند واین حکم تجاوز بغیر اولیاء ان وقت نکرده است در اولیاء ما
تقدم این حکم چگو نه مجّوز بود که شامل اصحاب کرامؓ است که بیقین
از حضرت شیخ افضل اند و درما تَاَخَّرْ نیز چگو نه مُتَمَیِّسی باشد که

Scanned by CamScanner

شامل حضرت مهدی است که ان سرور علیه وعلی اله الصلوٰة والسلام بقدوم او بشارت داده است۔

وامت را بوجود او مبشر ساخته و اوراخلیفة الله فرموده و همچنین اصحاب حضرت عیسی علی بینا و علیه الصلوٰة والسلام که از انبیاء اولوالعزم است از سابقانند و بواسطه متابعت این شریعت مُلحَق به اصحاب خاتم الرسول اند علیه وعلهیم الصلوٰة والسلام از بزرگی متاخران این امت تواند بود که ان سرور علیه وعلی اله وسلم فرموده باشد۔

" لایَدرِی اَوَّ لُهُمْ خَیْرٌ اَوْاٰخِرِ هُمْ " بالجمله حضرت شیخؒ در ولایت شان عظیم است و درجه علیااست ولایت خاصه محمدیه را علی صاحبها الصلوٰة والسلام والتحیه از راه سر بنقطه آخر رسانیده است و سر حلقه ان دائره گشته از اینجا کسے توهم نکند که چون شیخ حلقه دائره ولایت محمدیه بود باید که از همه اولیاء افضل باشد چه ولایت محمدیه فوق جمیع ولایات انبیاء است علی بینا و علهیم الصلوٰة والتّحِیَّات۔

زیراکه گویم سر حلقه ولایت محمد یست که از راه سرحاصل گشته است چنانکه گذشت نه سر حلقه مطلق ان ولایت تا افضلیت لازم آید یا انکه گویم سر حلقه مطلق ولایت محمدیه بودن مستلزم افضلیت نیست زیراکه تواند بود که دیگرے در کمالات نبوت محمدیه بطریق تبعیت وراثت پیش قدم بود مافضلیت از راه آن کمالات اوراثابت باشد جمع از

Scanned by CamScanner

مریدان حضرت شیخ عبدالقادر در حق شیخ غلو بسیار مینمایند و در محبت جانب افراط میگرند۔

در رنگ مُحِبّان مُفرِطُ حضرت امیر کرم الله وجه از فحوائے کلمه و وکلام این جماعة مفهوم مے شود که حضرت شیخ را ایشان از جمیع اولیاء ماتقدیم وما تاخر افضل میدانند و غیر از انبیاء علهیم الصلوٰة والتسلیمات معلوم نیست که دیگرے رابه حضرت شیخ فضل دهند این از افراط محبت است الخ۔

ترجمه: داچه شیخ عبدالقادرجیلانی قدس سره فرمائیلی دی قدمی هذه علی رقبة کلی ولی الله زما دا قدم په گردن د هر ولی الله دے نو عوارف المعارف واله کوم چه د شیخ ابو النجیب سهرور دی رحمة الله علیه مرید او تربیت یافته دے هغه دا کلمه د هغه کلماتو نه گرځولے ده چه مشتمله په عجب ده چه ابتدائی احوالو کښې د بقایائے سکر په واسطې د مشایخو نه صادریږی او په نفحات کښې شیخ حماد دباس رحمة الله علیه.

چه د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه مشایخو کښې راځی منقول دی چه هغه مبارك د فراست په طور فرمائیلی وو چه ددے عجمیؒ (یعنی شیخ عبدالقادر جیلانیؒ) یو داسی قدم دے چه د ده په وخت کښې به د تمامو اولیاء کرام په گردن وی او دے مبارك به د دے په وینا مامور گرځی چه قدمی هذه علی رقبة کل ولی الله او کله

چه دا خبره وکړي نو تمام اولیاء به خپل څټونه خکته کوي.

بهر صورت شیخ عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه په دې خبره کښې رشتونې دې برابره ده که دا خبره د ده مبارك د دې خبرې په اظهار باندې مامور کړې شوی دې کو بس قدم دده مبارك د هغه وخت د تمامو اولیاء کرامو په ګردن ووا و تمام اولیاء د هغه وخت د ده مبارك د قدم لاندې وو خو لیکن پیژندل پکار دي.

چه دا حکم د هغه وخت د اولیاؤ سره مخصوص دې مخکیني او روستوني اولیاء د دې حکم نه خارج دي څنګه چه د حضرت شیخ حماد د باس رحمة الله علیه د کلام نه فهمیږي (چه هغه فرمائیلي وو) چه د ده مبارك قدم به د ده د وخت د تمام اولیاؤ په ګردن وي او همداشان یو غوث چه بغداد کښې وو او حضرت شیخ عبدالقادر او ابن سقا او عبدالله د هغه زیارت (ملاقات) له ورغلي وو. هغه غوث د فراست په طریقه د حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه په حق کښې فرمائیلي وو چه زه ګورم چه ته بغداد په منبر ختلې یې او وائې چه قدمي هذه علی رقبة کل ولي الله او زه ګورم چه ستا د وخت اولیاؤ ستا د اجلال او اکرام د خاطره خپلو څټونه پست او خکته کړل.

نو ددې بزرګ د کلام نه هم فهمیږي چه دا حکم د هغه وخت اولیاؤ سره مخصوص دې او نن هم که چرته خدائے تعالیٰ چاله بینا سترګې (دزړه سترګې) ورکړي هغه به هم وګوري لکه څنګه چه

Scanned by CamScanner

هغه غوث ليدلي وو چه څښتونه د اولياؤ د هغه وخت د دوی د قدم لاندے دی او دے حکم د هغه وخت د اولياؤ نه غير نورو ته تجاوز نه دے کړے او په مخکښے اولياؤ کښے مه دا حکم څنګه جائز شي.

چه په هغے کښے اصحاب کرام عليهم الرضوان هم شامل دی چه هغوی په يقين سره د حضرت شيخ عبدالقادر جيلاني نه بهتر دی او په روستونو اولياؤ کښے به هم څنګه جاری شي چه په هغے کښے حضرت مهدی رضی الله عنه شامل دے چه د هغه د راتلو زيرے رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ورکړے دے او خپل امت ته يې د هغه دوجود زيرے ورکړے او ده مبارك ته يې خليفة الله وئيلے دے.

همداشان اصحاب د حضرت عيسیٰ علی نبينا و عليه الصلوٰة والسلام کوم چه د اولو العزم د انبياء د جملے نه دے د سابقينو نه دے او د دے شريعت د متابعت دوجے نه د خاتم الرُسل صلی الله عليه وعلی اله وسلم د اصحاب کرامو علهيم الرضوان سر ملحق دے درستونو د بزرګی د وجے ممکنه ده ځکه چه حضرت رسول اکرم صلی الله عليه واله وسلم فرمائيلی دی.

چه نه ده معلومه چه ددے امت اول بهتر دے که آخر حاصل دا چه حضرت شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه په ولايت کښے لوی شان او بلنده درجه لری ولايت خاصه محمديه علی صاحبها الصلوٰة والسلام والتحيه لره د سر په لارے آخری نقطے ته رسولے دے او

Scanned by CamScanner

ددغه دائرے سر حلقه گرځیدلے دے. او په دے ځائے کښے دے سوك دا تو هم نه کوی چه هرکه حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه د دائره ولایت محمدیه سر حلقه دے نوپکار ده چه دے مبارك دے د تولو اولیاؤ نه افضل شی.

ځکه چه ولایت محمدی د تمام انبیاؤ دولایتونو نه افضل دے ځکه چه زه وایم چه ددغه ولایت محمدی سر حلقه خودے چه د سر په لاره ورته حاصل شوے دے خنګه چه بره تیر شو خو مطلق سر حلقه ددے ولایت محمدی نه دے چه افضلیت یی لازم شی یا ودا وایم چه سر حلقه مطلق دولایت محمدیه کیدل افضلیت لره مستلزم نه دے.

ځکه چه ممکنه ده چه څوك بل څوك هم په کمالات نبوت محمدیه کښے د تبعیت او وراثت په طریق مخکښے قدم اُوړی او د دغه کمالاتو دلارے افضلیت هغه ته ثابت وی د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه اکثر مریدان د حضرت شیخ رحمة الله علیه په حق کښے ډیره غلو (زیاتے) کوی او د محبت په جانب کښے د افراط نه کاراخلی لکه خنګه چه د حضرت امیر کرم الله وجهه (حضرت علی رضی الله عنه) محبین د هغه په محبت کښے افراط کوی.

د دے خلقو د خبرو نه معلومیږی چه دا خلق شیخ عبدالقادر جیلانی" د تمام مخکینی او روستونی اولیاؤ نه افضل ګنړی او د انبیاء علهیم

Scanned by CamScanner

الصلوٰة والسلام نه علاوه معلومه نده چه سوك هم د حضرت شيخ عبدالقادر جيلاني" نه بهتر گنړي. خو دا خبره د محبت د افراط نه ده الخ.

فايده: زه دلته هم خپلو لوستونكو رونړو ته د فيصلې اختيار وركوم چه آيا د حضرت شيخ صاحب رحمة الله عليه او يا نور سيفيانو د نظرې د حضرت مجدد رحمة الله عليه د تشريح درميان كښې څه فرق دے؟

"اَنْشُدُكُمْ بِاللهِ اَنْ تَقُوْلُوا الْحَقَّ وَالْحَقُّ اَحَقُّ اَنْ يُتَّبَعَ وَمَا ذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلَالِ."

ولله العظيم چه نن هم هغه ريكارډ موجود دے چه ماته د صدام حسين بريلوى په نوم باندے يو شخص رينګ كړے وو او ماته يې ووئيل چه غلام حضرت مولوى صاحب ولے د شيخ عبدالقادر جيلانى رحمة الله عليه قدم په تولو اولياو نه منى ما ورته ووئيل چه ولې يې نه منى خو هغه داما تقدم او ما تآخر ته شامل نه گنړى او كه ته وايې چه شامل دے نو زه تا نه تپوس كوم.

چه آيا د حضرت شيخ عبدالقادر جيلانى رحمة الله عليه قدم د صحابه كرام علهيم رضوان په گردنونو هم وو هغه ووئيل چه هو بالكل د هغوى په گردنونو هم وو ما ووئيل چه لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم.

Scanned by CamScanner

محترمو لوستونکو دیته وایی ظلم او افراط او حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه به د داسے افراط مخالفت کولو نو داسی حاسدانو به په پروپیګنډو هغه مبارك بد نامولو. خو حق چرته پټ پاتے کیږی. الله تعالیٰ دے مونږه د افراط او تفریط د پلیت مرض نه محفوظ اوساتی. "رَحِمَ اللهُ عَبْدًا قَالَ اٰمِیْنًا"

نوټ:. دلته می زره ډیر تفصیل غواړی خو لیکن اَلْاُمُوْرُ مَرْهُوْنَةٌ بِاَوْقَاتِهَا مشهوره مقوله ده کیدیشی چه هغه د بل وخت سره ګانړه وی دډیرو مصروفیاتو دوجے تری زه تیریږم او اُمید دے چه راروان وخت کښے پرے بیا چرته موږ بحث اوکړم ان شاء الله العزیز.

د حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه د اعتدال یو بل مثال.

موجوده دور کښے د قیوم د لفظ متعلق بعضی خلق د افراط او بعضی د تفریط ښکار شویدی تفریط واله خو بلکل انکار کړے دے.

"وَالنَّاسُ اَعْدَاءٌ لِمَا جَهِلُوْا"

چونکه منکرینو کښے اولیاء نشته نو هغوی به د قیومیت د مقام نه څه خبر شی حلانکه سوك چه ادنیٰ مُمَارَسَت د لغت ولری نو انکار به ونکړی د اطلاق د قیوم نه په غیر الله باندے څکه چه لسان العرب جلد ٦ ص ۳۳۵۸ مکتبه اشرفیه کښے زکر دی.

اَلْقَیُّوْمُ وَالْقَیَّامُ وَالْمُدَبِّرُ وَاحِدٌ. قیوم او قیام او مدبر یو خیز دے بلکه قیوم، قیام، قیم او منتظم او مدبر یوه معنی لری نو د قیِم اطلاق خو

Scanned by CamScanner

په غیر الله باندے جائز دے او ثابت دے لکه څنګه چه د صحیح مسلم جلد ۲ ص ۳۴۰ نه معلومیږی چه " وَيَذْهَبُ الرِّجَالُ وَتَبْقَى النِّسَاءُ حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً قَيِّمٌ وَاحِدٌ "

سړی به لاړ شی او ښځی به پاتے شی حتی چه د پنځوس زنانو دپاره به یو قیم وی.

نو د قیوم اطلاق به پرے څنګه شرك او كفر وګرځی او د مدبر اطلاق خو په غیر الله باندے د قرآن کریم نه ثابت دے سوره النزاعت کښی راځی.

فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا. پس بیا دے زما قسم وی په هغه تدبیر کونکو فرشتو چه د کار تدبیر کوی.

نو د قیوم اطلاق به پرے څنګه شرك او كفر شی او د دیوبند مستند علماء کرامو نه هم دا اطلاق ثابت دے چنانچه علامه محمد زاهد الحسینی دیوبندی صاحب په رحمت کائنات کښے په ص ۳۱۶ باندے فرمائی "ف" "قیوم دوراں حضرت مجدد الف ثانی قدس سرہ العزیز نے اس مسئلہ پر اپنے علمی اور روحانی انداز میں مندرجہ ذیل ارشاد فرمایا ہے۔"

نو نن چه د دیوبند په څادر کښے بعضی شُذرنډر په دے د شرك او كفر تاپی لګوی دا د هغوی په جهالت مبنی ده.

او افراطیانو هر کجا خیل ته د قیومیت مقام ورکړو لیکن حضرت شیخ صاحب رحمة الله علیه به یه دواړو فریقینو رد کولو او فرمائیل به

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

یی چه څوك تري بالكل انكار كوي نو دا تفريط دے او څوك چه د هغه چا باره كښے په پوسترو كښے قيوم الزمان ليكي چه هغه غريب دولايت صغرئ نه هم خبر نه وي دا افراط دے.

بايد چه دا جمله دے د خپل مستحق دپاره استعمال كړے شي د هر كس ناكس باره كښے د دے كلمے د استمال نه پرهيز وشي دا د هغه مبارك د اعتدال يو بل مثال وو چي ما فقير ستاسو په خدمت كښے پش كړو نور هم صَدُها مثالونه شته چه د هغي بيان د يو دفتر عظيم متقاضي دے خوزه فقيرنور دي مختصري رسالي ته اختتام وركوم.

"وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى"

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَجُنُوْدِهٖ وَسَلَّمَ تَسْلِيماً. كَثِيراً كَثِيراً.

بقلم فقير سيد محمد آياز علي شاه السيفي خادم الاحاديث الشريفة في الجامعة المحمدية المجدية السيفيّة الملحقة بتنظيم المدارس.

Scanned by CamScanner